2 - MAY 27
Copy ____ 1959

کابل

پر له پسی کڼه (۴٦۷)

قتیل خوږ یانې

دشاعرۍ رازونه

ولې دې ظالمه په سوراوږ باندې نیولې یم
ماته څه ګناه ده تا په خپله پارولې یم

ته چه لیدل جرم بولې ستر ګې راته وتړه
خلاصې ستر ګې هر څه ګرځې زه پرې پوهیدلې یم

دامې وظیفه ده چه لیدلې را ښکاره کړمه
ځکه چه په راز دشاعرۍ زه رسیدلې یم

تا ته که ځماله لاسه نه شې کوز وپاس ورورہ
څه وکړم پښتون یم پښتنې غیږ کښې روزلې یم

سر کښې مې غیرت د پښتو پروت دې تیټیدې نشې
هسې دې په نوم دسر کشۍ باندې شړلې یم

ورورمې ئې پیدا بو له آدم او له حوا ځینې!!
زه انسانیت ورورہ لتا سره تړلې یم

داد قبیلو جدا ئې راز د پیژندنې دې
داسې په قرآن کښې آسمانې قانون ګڼلې یم

شرط دې سړیتوب کښې احترام متقابل ښائې
ته که سر تنبه ئې پښتنې زه زنګولې یم

ورورہ تعصب کښې به له منځه ځنې دواړه ځو
تېر له تعصب شه زه «قتیل» ئې زور ولې یم

د ۱۳۳۷ کال دلړم (اول) د ۱۳۷۸ ق، کال د ربیع الثانی (۹) د ۱۹۵۸، ع، کال د اکتوبر (۲۳)

۲۸ کال

۱۵ گڼه

15

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی، ادبی، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: محمد حسن «کاکړ»

پته: کابل - نادر پښتون واټ د پل خشتی په مقابل

د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

په دې ګڼه کښې

مضمون	لیکوونکی یا مترجم	مخ
د پښتو ژبې د....	ښاغلی تېزی	۱
حقیقت	« سعدالدین	۱۸
زه فلالوګ نه یم	« اتمان	۲۵
ادیب لیکوال شاعر	« الهام	۲۶
وروسته د ښاغلی خیبری کتاب	« دریمه شپه »	

حبیب الله «تبزی»

د پښتو ژبې د اصالت او قدامت د پلټلو په برخه کې د مقایسوې

ژب پوهنې اهمیت

کله که موږ د څو سوه کلونونه را پدی خوا د ځینو کتابونو په تېره بیا تاریخونو (؟) پاڼې واړوو، ډېر ځله ددې خبرې سره مخامخ کېږو چه خلکو د پښتنو او پښتو په برخه کښې د خپلوانو پاکوهیلو او تعصب د ترسره کولو د پاره ډول ډول خبرې کړی او هر چا د خپلو اغراضو سره سم د خپلې ګېډې نه هر څه ویلی دی، خصوصاً هغو خلکو چه یې خپل کتابونه د تاریخ او څه او څه په نامه د خپل وخت د سیاست دلاس لوبونی کرځولی او دومره مزخرف یې لیکلی دی چه نن یې هر د شعور خاوند د سوځولو وړ ګڼی نه د لوستلو.

دوی پدی کتابونو کښې ددې د پاره چه پښتانه د بل ملك وښیی او د خپلې مینې او هېواد مېنه پکښې مړه کړی تل پر دیو سیمو او قومونو ته منسوب کړی دی خو سره له دی هم څرنګه چه وایې په ړندو کښې یو سترګی پاچا دی دغه له غرض نه ډکې خیالی ببولالی د سیاست لوبونی د علمی او تاریخی کتابونو په نامه یاد شوی او ځینو کسانو په ډېره درنه سترګه ورته کتلی دی تر دې ځایه چه کله کله پښتنو هم په غیر شعوری ډول سره د تاریخی او علمی اسنادو په نامه استنادونه پرې کړی دی ځکه دغه لږ پښتانه دا فکر کوی چه ښایې هر کتاب درست او هر څه چه دیوه مؤلف له خوا ویل کېږی هغه علم دی.

البته دا طرز د تفکر یوازی په پښتنو او یا نورو ختیځو هیوادونو پوری خاص نه دی بلکه څرنګه چه تاریخ شاهد دی ننني لوېدیځی نړۍ هم پدې برخه کښې خپل وار تېر کړی دی. دوی هم د علم په تاریخ کښې حکایتی دوره او یا هغه دوره لری چه بنسټ یې یوازې خیالی کسی دی او بس دوی هم د علم د تاریخ له مخې منطقی دوره چه د کوچنۍ آسیا او یونان د تمدن یو ځای شروع کیږی او ابوالفلسفه ملیطی طالس د علمی عقایدو بنسټ تفکر او استدلال او علت او معلول ګڼی او بیاور پسې هرا کلید د دیالکتیك اصل مینځ ته راباسی او استدلال د پیښو د جریان سره څنګ په څنګ

مطالعه کوی ، پای ته رسوی او دتجریب اومشاهدې په دوره ورګډېږی .

مثلاً دژبې په برخه کښې چه زما ددې مقالې اصلی موضوع ده دغریبانو مطالعه هم دلومړی سرنه په ننني ډول نه وه بلکه تردانژدی وختو پوری لا په هغه ډول وه چه دخلکو خبره له بابادم نه تردې دمه پوری رارسېدلې وه . (۱)

دژبې داستادانو په ډېرو ژورو بحثونو کښې هم ، لکه داچه داعبارت : «دا زه یم» آیا (It's me) و لیکل شی ښه دی او که (It's I) ډېر ستر دلیل او سند لرغونې او یاد څه مودی پخوا آثار وو .

دوی پدې برخه کښې چه دانګلیسی د (half) کلمه دی باید د (haf) په بڼه ولیکل شی او که د (half) په بڼه ډېر ستر سند شکسپیر آثار کڼل .

(۱) مثلاً چه غریبانو هم پدې دلیل چه مقدس کتابونه پری لیکل شوی دی ، عبرانی ژبه دټولو ژبو مور ګڼله .

اما دا تلسمی پیړۍ دراتلو سره منطقی دوره هم په حکایتی دوری پسی ځی اود تجریب او مشاهدې دوره رار سېږی .

پدی دوره کښې علم په بې ساری ګړندیتوب په مخ ځې او په ټولو علومو کښې دااصل ټینګېږی چه: دعلم تحقیق په ځیر سره او ژورې څېړنې ته وایی. ژوره او په ځیر سره څېړنه هم تر هغو پورې امکان نه لری تر څو چه علم دعمل سره نه وی یو ځای شوی . ځکه دحقایقو دموندلو دپاره باید چه علم دعمل سره ملګری شی او هغه تغییرات چه دعملی آزموینو په واسطه تاکل کیږی دتفکر په واسطه مربوط اودعلت او معلول اړیکی یې په پوره توګه سره پیداشی. پدې ترتیب علم هلته رسیږی چه سپی اسمان ته الوزوی .

دلوېدیځې نړۍ دژبې استادان دژبې په مطالعه هم دتجریب اومشاهدې له مخې په سستماتیک ډول سره پیل کوی ، چه دژبی دا ډول مطالعه ژب پوهنه او پوهان یې ژب پوهان بلل کیږی .

له ښه مرغه چه دغه پوهان خپله مطالعه یوازې په لوېدیځه نړۍ کښې نه پرېږدی بلکه داستشراق په لړ کښې دختیځو هېواد ونو ژبې هم تر مطالعې لاندې نیسی . خو څرنګه چه زما مطلب پدې مقاله کښې په پښتو باندې دی نوله دی امله دژب پوهانو دنورو مطالعاتو اویا د هغود تاریخ او نتایجو په برخه کښې زیات څه نه وایم ، بلکه خپله پښتو ته راځم او ګورم چه دوی دخپلې مطالعې په لړ کښې دپښتو داصالت دمنکرینو په ځواب کښې څه ویلی اودهغو ببولا لو ځواب یې ، چه د مخه مې ګوته ورته و نیوله ، څنګه او په څه ډول سره ور کړی دی. یا په بله ژبه ګررم چه دپښتون قوم ژبه یې څنګه اود کوم لړ ژبو څخه ګڼلې ده؟

په عمومی ډول سره خوخبره داده چه دوی دپښتو په برخه کښې هغه عقاید چه بڼسټ یې یوازې په سیاست لړلی اغراض وو

په لغته وو هل او په هغه چاپسې
يې ورولېږل چه په ليکلوئی
خپلې شپې ور ځې تېرې کړې
وې .

دوی پښتو د پښتنو له خولې
د تجريب او مشاهدی په آساس
او پښتانه د پښتو او د دغه ګڼ
غښتلی ولس د موجوديت او هغه
واقعيت له مخې مطالعه کړل .
چه يې د ايشيا په زړه کښې د استعار
د ډېر قوی د يورمباړی تر اسمان
پورې ورسولې .

مګر له بده مرغه چه خبره
په يوازې همدومره تبصره نه
پوره کيږی . ځکه اوس هم
زموږ شاؤ خوا ته لا ځينې داسې
خلك ليدل کيږی چه يا يې
د پښتو او پښتنو په برخه کښې
د دغه قوم د ملی روحيی د سستولو
داذها نو د مغشوشولو او د ملی
يووالی د مزی د شلولو په نيت
هغه زړې ببولالی چه پښتون يی
له خپل اصله بېګانه ښودلی دی
او ويونکی يی نن په هديره
کښې هم خجالت پرې باسی
را بر سېره کړی دی . او يا
د پښتو او پښتنو يا هغه واقعيت نه

چه می د مخه ګوته ورته
ونيوله سترګی پټوی او ما ته زموږ
د کليوال «تور» وړو کوالی
را په زړه کوی،

تور زموږ د کلی يو ډېر
«شيطان» هلك ؤ . تل به يی
د ځينو سپين زيرو له پالېږونو نه
بادرنګ او د ځينو سپين سرو
کوندو له ګندوانو نه
اوړه پټول . خو کله به چه
څوك راغی پرې، نو به سمدستی
غلی کښېناست او خپلی سترګی
به يی کلکی پټی کړی . چه
ګوندې هيڅوك می هم نه وينی
ځکه څنګه چه ده پخپله څوك
نه ليدل نو يی فکر کړو چه
کوندې څوك نشته.

دغه ليکوالان هم اوس،
د «تور» او يا هغه چرګ په
څېر چه د ښکاری له ويرې سر په
غوړګه ننه باسی او فکر کوی
چه می نه وينی، خپلی سترګی
پټوی او پخپله خپل ځان غولوی .
که نه وی نو دوی پخپله هم هغه
قوم چه له آمونه تر اټکه يو ځای
او په نورو سيمو کښې په خپاره
ډول سره ديوه واقعيت او قوت.

په حيث پروت دی دور ايه
ليدلای او هغه ژبه چه د دوی
د ډېرې ټينګی غوښتنی او مينې
په آساس نن د نړۍ د ډېر هسك
څلی له څوکونه مخ په نړۍ
ورخپريږی او رېدلای شی .
د وی ته نن دا خبره د لمړ په
څېر څرګنده ده چه پښتون هم
د شلمې پيړۍ د غوښتنې سره
سم خپل ځان پېژندلی او د خپلې
ژبې او کلچر د ساتلو او په مخ
بيولو د پاره هره کړۍ په هڅه
کښې دی. پښتو ژبه نن د پښتانه
خپله او د زړه له کومی غوښتنه ده.
نو له دې امله زه وايم چه
تر څو پښتون ولس د نړۍ
له مخه نه دی اخستل شوی تر هغو
پورې پښتو هم مرګ نه لری .

دغه ليکوالان پدې ډېر ښه
پوهيږی چه داد څوکسو د غږ
کړنګ نه دی چه د ايشيا د زړه
څخه د «پښتو» په نامه را اوچت دی.
بلکه دا د ټول پښتانه ولس
د غږ کړنګ دی چه د آمو
او اټك له څپو سره ګډ او بيا
د هندوکش په درو کښې وروسته
له انعکاس څخه لا هم پسی لوړ

او دهمدې لړ غرو نو د هسکو هسکو څو کونه په نړۍ اورول شوی دی .

دوی په یقین سره له دغه قوت نه چه نن د نورو په لمسون سترګې ورڅخه پټوی او په لوی لاس دخپل ژوند سره لوبې کوی د «افغان» په نامه دومره بېریږی لکه په اصطلاح پېری د بسم الله نه خو څه وکړی چه دمجبوریت ننګ لمر په ګوتو پرې پټوې .

لنډه دا چه زه پښتون که نور څه نه وی د ننني موجودیت له مخې دیوه سترغښتلی قوم په حیث یو واقعیت او پښتو ژبه ددې قوم مال بولم. اما داچه دغه ژبه څنګه او دڅه وخت ژبه ده؟ ځانته موضوع او دحل دپاره یې په لومړی ګام کښې دځینو ژب پوهانو هغه نظریات دی چه دسستماتیکی مطالعی په آساس بنا او د نن دپاره ترهرڅه نه معتبر دی، چه دادی دلته یی دځینو پیاوړو او مشهورو کسانو نظریات را اخلم. وبه ګورو چه څه وایی ؟

زه پدې لړکی د ډاکتر جیمز ډار مسټټر نظریات چه یی د نولسمی پېړۍ په پای او دشلمی پېړۍ په سر کښی لیکلی دی تر نورو نه دمخه را اخلم.

ډار مسټټر د شرقی ژبو په برخه کښی پوره او ژورې څېړنی کړی او مشهور تالیفات یی دادی !

۱- ایرانی معلومات-۱۸۸۳ ع

۲- زړه پاړسو او ادب یی ۱۸۸۲ ع

۳- د هندی ژبو راپور - ۱۸۸۸ ع

٤- د پښتو نخواهارو بهار - ۱۸۸۸ ع

٥- دزند اوستا فرانسوی ترجمه -۱۸۹۲ ع

٦- غوره مقالی - ۱۸۹٥ ع

۷- اهریمن - ۱۸۷۷ ع

دغه ښاغلی بر سیره پر دې چه دا دبیاتو ډاکټر واوخپل ډېر زیات ژوندیی دزر دشتی ادب په څېړنو کښی تېر کړی دی په ۱۸۷۷ ع کښی دزند دژبی پوهنیار په (۱۸۹۲ ع) کښی لوی مدیر او په (۱۸۸٥) کی دفرانسی په کالج کښی دپاړسو ژبی استاد او دآسیایی ټولنی لیکوال هم ؤ. (۱) دد غه نامتو ژب پوهان نظریات د پښتو په برخه کښی دا دی!

«پښتو نه دپارس لهجو څخه یوه لجهة او نه د پهلوی څخه دیو زیات شمېر ابتدائی غږونو بڼو ته یی داسی تغییرور کړی دی چه ددې خبرې هر راز امکان چه پښتو دی په یو وخت کښی د ننني پاړسو او یا پهلوی بڼه لرله - رټ له منځه وړی . (۲)

«پښتو ژبه چه له پاړسو او پهلوی څخه ډېر اختلاف لری دلرغونی ژبی په شان او په هم هغه وضاحت سره یې دموضوع او جنس تمیز ساتلی دی.» (۳)

«پښتو چه تر پاړسو څخه په ډیره پخوانۍ شیوه پابندی لری راوستل بل قوی دماغی

---

(۱) وګورې دډار مسټټر دڅېړنو مقدمه - ح. لاؤس او انډین بیوګرافی .

(۲) ډار مسټټر پښتو څېړونکی مخ ٥۲

(۳) ډار مسټټر پښتو څېړنې مخ -٥۲

توری یې هم ساتلی دی.»«۱»

«د پښتو ډېر لغتونه موولیدل چه د زند د کلمو سره مربوطیږی پداسې حال کښې چه د هغو لغتونو معادل نه په پاړسو کښې شته او نه په پهلوی کښې. د دې دوو ژبو (پښتو او زند) ځانته مقابلې لکه د پښتو د (غله- او غدی) د کلمی تقابل د زندو (گده) سره او د «بل» د کلمی تقابل د- بتیه- سره او «شکون» د «سکورونه» سره او «زغلم» د- زگت- سره او داټولی هغه کلمی دی چه یې په پاړسو کښې نښه هم نشته او ځینې له هغو نه د زند تاریکۍ هم روښانه کوی او موږ دی ته رابولی چه د پښتو کلمې د فقه اللغې په اساس په زند کښې وپلټو..

گواکې پښتنو د پخوانیو مغانو او زردشت خبرې په خپلو شوندو کښې د بمبی تر پاړسو وانانو څخه «۲» ښې ساتلی او ترموږ پورې یې را رسولی دی.»«۱»

«دومره ده چه پښتو ژبه تر پاړسو او پهلوې څخه ډېره د لرغونتیا او قدامت پسندۍ پابنده ده.» «۲»

«په پښتو کښې د مذکر زور کی مقابل والی د مؤنث د زور سره لکه څنگه چه موسیو هاندی په خپل کتاب کې چه افغانی کتنې نومیږی لیکی د زند او سنسکریت د ژبو د وضعیت سره مطابقت څرگندوی ځکه چه پدی دوو ژبو کښې د مذکر د زور او د مؤنث د «آ» ترمینځ همدا راز تقابل موجود دی او پښتو ژبه پدی ځای کښې د قدامت له حیثه د زند لو سنسکریت سره برابره ده.»«۳»

دغه ډول ډاکټر هانری والټر بیلیو چه د پښتو یو ستر محقق دی او په نوموړی ژبه کښې یې پخپل نامه یو گرامر هم لیکلی دی. د خپلو څېړنو په پای کښې د پښتو په برخه کښې داسی وایی:

«پښتو له آره د سنسکریت یوه خورده.»«۴»

د غسی ډاکټر هنری یو فرانسوی پوه وایی:

«پښتو له یوې خوانه سنسکریت او له بلې خوا اوستا ته ورته ده مثلاً هغه لاحقی چه د کلمو په پای پورې نښلی او، اوستا او سنسکریت دواړه پدې برخه کې سره نژدې دی، پښتو هم پدې خصوصیت کښې د هغو په څېر ده چه دا فعالو په گردان او فاعل او مفعول کښې زندته. ډیره زیاته ورته ده او کله کله هم سنسکریت ته نژدې کیږی. او د دې ټول نژدې والی علت دا دی چه دواړه ژبې د یوې ریښې څخه راوتلی دی. او پخوا د آریایی ژبو دانشعاب څخه یوه ژبه وه، او هم وروسته له هغه دوه درې زره کاله سره گاونډۍ وې او پرله پسی اړیکی او مناسبات یې سره لرلو.»«۱»

را ورټې د ډورن د مقدمې په حواله پښتو یوه آریایی ژبه بولی او وایی:

---

(۱) ډارمسټتر پښتو څېړنی مخ-۵۶

(۲) ځکه د بمبی پاړسو وانان وایی چه په پښتر کښې هم مطالعه په شرقی لهجه کښې ده.

(۱) ډارمسټتر پښتو څېړنی مخ-۵۴

(۲) « « « « مخ ۵۸

(۳) « « « « مخ-۵۶

(۴) د بیلیو د گرامر مقدمه مخ-۱۱

(۱) د پښتو ادبیاتو تاریخ ټوک ۱، مخ ۳۶ ج د لېننگراد د اکادمی د لیساناتو سلسله ټوک ۴.

«دافغانستان اصلي او لرغوني اوسېدونکي پښتانه دي.» «۱»

داوو د ځينو ډېرو سترو پوهانو نظريات د پښتو په لړ کښې چه نتيجه يي په لنډ ډول سره داسي کيږي:

۱- پښتو له ځينو خواوونه دزند او سنسکريت سره دخور ولۍ نسبت لري مګر له ځينو خواوونه بيا د ډارمسټټر خبره ترزندنه هم پښه اړوي او په مخ ځي.

۲- پښتو تر پهلوي هم دغه او لرغوني ژبه ده، اوس به دې ته را شو چه آيا ژب پوهان پښتو ويدي ژبو ته نژدې ګڼي او که اوستايي ژبو ته، او يا دا چه يي ددغو دواړو څانګو ترمينځ ديوې بنيادي ژبي په حيث ځانته ژبه بولي؟

راورټي چه د پښتو يوستر مؤلف دي او په پښتو کښي يي د پښتو لغاتو کتاب د پښتو ګرامر، ګلشن روه او پښتو محاورې ليکلي دي او دا سيپ حکيم کيسه هم دده د تراجمو څخه ده

(۱) راورټي مخ ۲۹.

پدې برخه کښي داسي وايي:

«پښتو زند او سنسکريت ته ډېره زياته نژدي ده.» «۱»

ځيني نور پوهان هم دا خبره چه پښتو دويدي او، اوستايي څانګو ترمينځ يوه بنيادي ځانته ژبه ده داسي تائيدوي.

«د پښتو نه دويدي لهجو څخه ده او نه د اوستايي لهجو څخه بلکه يوه ځانته مستقله ژبه ده چه په مرکزي آريانا يعني پښتونخوا کښي د دغي سيمي د شرقي او غربي ژبو همځولي څه چه له دې دوو څخه مشره ده.

د پورته د نظريي د طرفدارانو څخه ترومپ واضح او نور لکه فون سپيګل. ګريرسن، هارنل. پال ټيډسکوي او هنري طرفداران ګڼل کيږي؟ «۲»

دا نظريه دهند ژب پوهانو هم منلي ده. «۳»

ډارمسټټر هم دا نظريه دهندي ژبو په راپور کښي په ټينګه سره

(۱) دراورټي پښتو ګرامر. مخ ۲۷.

(۲) وګوري. د لېنګراد دا کادمي د لسانيانو دلړ څلورم ټوک «ت. پ»

(۳) ډارمسټټر پښتو څېړنې، مخ ۱۰۹

تائيدوي. لنډه دا چه هر څومره پلټنه وکړو هغومره دا نظريه راسره ټينګيږي چه د ژب پوهانو نظريات واړه د زړو ببولالو پر ضد او ماتوونکي دي. اما کوم شي چه د لته زما په فکر ډېر زيات اهميت لري هغه د دغو پوهانو د مطالعې په ډول ځان پوهول او د ځينو پښتو ليکوالانو ورپسې تلل دي. ځکه ختيځ پوهان هم کله کله په پښتو باندې د پرره نه پوهېدلو له امله تېروزي او د پښتو آري مميزات په ځير سره نه شي ښودلای. که نه وي نو دا يوه څرګندېدونکي خبره ده چه پښتو د لرغونوالي له مخې په سنسکريت او زند هم مټ اړوي. نو له دې امله زه دا غراضو او خرافاتو نه جوړ شو وبتانو د پوره ماتولو او جغزۍ جغزۍ کولو د پاره پخپله پښتانه څېړونکي دې برخې ته را بولم او وايم چه پدې برخه کښي هم د ځينو پښتنو ليکوالو د بلدېدلو او د هغوی د رسولو په شرط ډېره

ښه لاره مقایسوی ژب پوهنه ده ځکه کله که موږ په پښتو پخوانیو متونو کښې ځینې ډېر جزئی تغییرات، چه هغه هم د پردیو ژبو د تأثیراتو له امله د ځینو خواصو په لیکنو کښې لیدل کیږی، یوه خوا پرېږدو نو په ډېر زغر؟ سره ده داویلای شو چه په پښتو کښې په دا زر یو نیم زر کاله کښې هیڅ کوم تغییر هم نه دی راغلی.

ددې خبرې اثبات برسېره پر پښتو متونو همدغه مقایسوی فلالوژی په ډېره ښه توګه سره کولای شی، چه یو کوچنی مثال به یې پدې مقاله کښې هم وګورىء.

اما پخوا د مقالې تر لیکلو نه یو ځل بیا هم باید دا ووایم چه زما مطلب له دې مقالې څخه د پښتو د اصالت یا قدامت په برخه کښې یوازې پدی اساس څه ادعا نه ده چه ګوندې پښتون یم. بلکه پدې څېړنو کښې غواړم چه د ژب پوهنې د یوه شوقمن په حیث د معاصر ختیځ پوه ښاغلی مارګنسترن لدې خبرې سره سم چه: «د آریایی ژب پوهنی په برخه کښې د پښتو څېړنه ډېر زیات اهمیت لری.» (۱) د نوموړې ژبې په برخه کښې د مقایسوی ژب پوهنې د آساساتو سره سم د خپل توان په اندازه څه ولیکم.

زه پدې برخه کښې کوشش کوم چه لومړی پښتو د پښتونه را په څرمه او تر یو ځایه پورې نو یو ژبو سره مقایسه او بیا یې د نررو او لرغونو ژبو سره پرتله کړم.

پدې مقاله کښې کومې ژبې چه زه د هغو نژدې یوه ګډه ممیزه پښتو سره پرتله کوم هغه پاړسو، پهلو او بیا پسی اوستا ده خو کومه خبره چه دلته پخوا تر هر څه نه باید یاده شی هغه داده چه زه د پښتو مقایسه په ځینو برخو کښې د پاړسو سره د کار د اسانولو د پاره کوم نه په پاړسو باندې د پښتو د اصالت او قدامت د څرګندولو د پاره. ځکه څرنګه چه تاسو د مخه د نورو ختیځ پوهانو په نظریاتو کښې په ضمنی ډول (پښتو په زند هم مټ اړوی) او د ډارمسټټر په نظریاتو کښې په صراحت سره ولوستلو پدې برخه کښې له پاړسو سره د پښتو د مقایسی سوال هم نه شی پیدا کېدلای.

زه دلته په یوه «پری فکس» باندې خبرې کوم چه دغه پری فکس په پاړسو کښې د «ba» په پښتو کښې د «pa» او «wa» په پهلوی کښې د «pat، pa او be» (۱) او په اوستا کښې د «wpa» او «aVr» او په بلوچی کښې هم د «Pa» په بڼه دی. (۳)

پدی ترتیب چه د پاړسو د اضافی «ba» په مقابل کښې چه د پښتو «Pa» د پهلوی «Pa» او «Pat» د اوستا «Vpa» او د بلوچی «Pa» ده. مګر د پاړسو د زینت د «ba» په مقابل په افعالو کښې د پښتو (Wa)

(۱) اتی مولو چیکل و کبولری اف پښتو

(۲) برهان قاطع مخ (۲۰۱) او ۳ سبک شناسی د بهار مخ (۳۸۱) او (۳۳۲) اتی مولو چیکل و کبولری اف پښتو

دا وستا (avə) او د پهلوی (be) ده.

څرنګه چه می دمخه هم وویل داڅېړنه د کار داسانتیا دپاره د پاړسو ژبی څخه شروع کوم او بیا ور پسی په مخ ځم.

په پاړسو کښی دغه (ba) په دوه ډوله ویشل شوی ده یوه د زینت «ba» او بله داضافت (ba) اما سره لدې هم ټول لیکوالان لومړنی (به) یوه ډول (به) نه بولی بلکه یویی یو ډول بولی او په یوه نامه یی یادوی او بل یی بل ډول بولی او په بل نامه یی یادوی. نوله دې امله زه دلته ددغو لیکوالو دلایل سره له حکمونو را اخلم.

د برهان قاطع مؤلف پخپله مقدمه کښی لیکی:

هغه توری چه د (زینت) دپاره راځی او په معنا پورې څه اړه نه لری. لکه دا بجد «با» په «بګفت» او «برفت» او «بنګفت» او «نبرفت» او «بنشیند» کښی چه معنا یی ګفت، رفت، نګفت، نرفت او نشنید کیږی، او په هغو ځایونو کښی چه د بر او در د کلمو د مخه راځی لکه: تیرش فرو شد بجګر برو نشست بسپر بر چه مطلب د بجګر او بسپر با ده.

یا لکه: داخل شد بشهر در او در آمد بخانه در چه مطلب د بشهر او بخانه باده.

ځینی خلک دا بازیاتی با هم بولی.(۱)

بیا لیکی:

او د حاضر امر نښه دا بجد با ده چه د کلمی د مخه یی راوړی لکه:

بګو، بشنو، بخور او بزن(۲)

مګر ځینی نور پاړسو لیکوالان بیا دا (ba) د تأکید (ba) بولی او وایی!

په ژبه کښی هیڅ داسی توری نشته چه یوازې د ښکلا دپاره او زیاتی وی. ځکه بشر په هر څه کښی سپما خوښوی په تېزه بیا په ژبه او ګړېدا کښی چه کوشش کوی زیاتی توری واړه لرې وغورځوی او کلمی حکاکی کړی او ویی تراشی. نوله دې امله زه وایم داڅه معنا لری چه دې یو توری د ښکلا دپاره او یا زیاتی په کوم لغت پوری و نښلوی.

ترڅو چه کوم توری او یا کلمه معنوی ضرورت و نه لری نه په ژبه کښې راځی او نه یې فصحا خوښوی - نوله دې امله دا (با) چه دا فعالو په سر کښی راتله او نن هم په ځینو صیغو کښی راځی د تأکید (با) ده(۱)،

داوې د دغه ډول «ba» په برخه کښی د پاړسو د ځینو سترو لیکوالانو نظریی چه می دلته راواخستی اما زه پخپله پدې برخه کښی څه دلائل نه لیکم بلکه یوازې دومره وایم چه په پښتو کښی دا توری نه یوازې زیاتی او یا د ښکلا توری نه بولم بلکه وایم چه د تأکید دپاره

(۱) د برهان قاطع مقدمه مخ «لج»
(۲) د برهان قاطع مقدمه مخ «یه»

(۱) سبک شناسی د بهار لومړی ټوک ۳۳۲ مخ.

بههم نه وی راغلی بلکه پدغو برخو کښی بهدا توری پخپله په روغونه کښی برخه لری ځکه دلته په ځینو صیغو کښی په بدل ددې چه ولوېږی پخپله دمعنا مکمل برېښی لکه په «واورید ودره ! او وکړ کی» چه بی د (و) نه خپله معناهم نه شی افاده کولای ځکه د (اورېد) نه دو اورېد او د [دره !] نه د و دره اود [کړ] نه د [وکړ] معناهم سړی نه شی اخستلای مثلاً [احمدزغ اورید] یوه معنا لری او احمد زغ واورېد بله معنا یا داچه خاتول کار کړ نه یوازې داچه د خاتول کار وکړ. معنا نه ورکوی بلکه یو بی معنا او ونګ عبارت ورڅخه جوړېږی چه خپله پښتون هم نه پرې پوهیږې نوله دې امله زه دغه توری په پښتو کښی دپاړسو د (ba) په نامه نه شم یا اولای اووایم چه باید کوم ځانته نوم ورته وټاکل شی.

برسېره پرنامه او نور څرنګوالی په پاړسو کښی دا «ba» داستعمال د کثرت او قلت له مخی هم توپیر لری . یعنی څومره چه دپاړسو دلرغونو متونو پاڼی اړوو ګورو چه په هم هغه اندازه ددی « ba » استعمال زیاتیږی .

یا په بله ژبه دپاړسو تر اوسنۍ ژبی او ادب نه په لرغونی ژبه او ادب کښی ددی «ba» استعمال زیات وو ، اما په پښتو کښی په هم هغه کثرت لااستعمالیږی له دې ځایه ده چه زه وایم دپښتو دلرغونی متن او نننۍ ژبی ځکه نننۍ ژبه وایم چه متن په عمومی ډول سره نژدی خپل رنګ بایلوی او تر ستونی پورې پر دیوا غیزو لاندې ډوب دی تر مینځه څه توپیر هم نه لیدل کیږی چه ددې خبرې ډېر ستر دلیل بر سېره پر پښتو متونو دپاړسو لرغونو متونو ځینی ممیزات هم کیدای شی لکه همدا ba چه ور باندی خبری کوم مرحوم بهار دا «ba» دپاړسو نثر دلومړنۍ دوری دممیزاتو څخه ګڼی او وایی : چه په لومړۍ دوره کی دټولو صیغو په سر کښی راتله مګر اوس نه راځی .

دادی دا لاندې عبارات ددی (ba) دښودلو دپاره دپاړسو نثر په لومړۍ دوره کښی ډېر ښه مثالونه کېدای شی .

بلعمی وایی :

از قبطیان فرعون زنی سخت پیر بود نام او مریم بنت ماموسا ومسلمان شده بود و بموسی بگرویده . . . این زن موسی را گفت من گور یوسف تورو بنمایم تا تو مرادو حاجت روابکنی ، گفتا چه خواهی . گفتا چون از مصر بسوی مرا باخویشتن ببری ودعا کنی . «۱»

بیهقی وایی :

وقت سحر گاه فراشی آمد ومرا بخواند ، برفتم آغاجی مرا پیش برد ، امیر برتخت روان بود درخرگاه ، خدمت کردم گفت بونصر را بگوی

(۱) دبلعمی دتاریخ دلومړی ټوک خطی نسخه (له مصر نه دموسی تلل اود فرعون غر قیدل)

آنچه‌در باب حصیری کـردهٔ سخت صوابست وما اینك سوی شهر سی آئیم ، آنچه فرموده آید بفرمائیم و آن ملطفه بمن انداخت ، بستدم و بـاز گشتم امیر نماز بامداد بکرد و روی بشهر آورده ومن شتاب تر بر اندام نزدیك شهر تـا استـادم را بدیدم باخواجه بزرگ ... بونصر مرا بدیدو چیزی نگفت ومن بجای خودبایستادم.«۱»

به‌اسرالتوحید کنبي‌راغلی‌دی:

« شـیـخ ، حسن راآواز داد و گفت یـاحسن کـواره بربایـد گرفت وبسرچهارسوی کرمانیان باید شد وهر شکنبه وجگربند که بیابی بباید خرید ودرآن کواره نهاد ... حسن کواره درپشت گرفت وبرفت و هر شکنبه که دید بخرید وبر کواره نهاد... شیخ گفت این راهمچنین بدروازهٔ حیره بایـدبردوپـا کـیزه بشستن بـدان آب وبـاز آورد... گفت اکنون اینرا بمطبخي باید داد تاامشب اصحا بنارا شکنبه وائی پزد ... .. گفت اکنون غسل بباید کـرد وجامهٔ پاك ونمازی پوشید ... ای حسن آن توئی که خودرا مـی بینی والا هـیـچ کس راپروای دیدن تونیست ،آن نفس تست که تورا درچشم تو میآراید ، اورا قهرمی بایـد کرد وبمالید بمالیدنی که تا بنشکنیش دست‌ازوندارى «۱»

به پورته‌عبا را تـو کنبي د« بگروید» بنمایم ، بـکـن ، ببری، بخواند ، برفتم .بگوی بفرما . بدیدم، برفت ، بخرید او بمـالید » وارو «ba» هغه «ba» ده چـه په پښتو کنبي داوستا «aVa» غوندي‌د «wa» په بنه راځی‌لـکه : وگروهید وبنیم ، وکړی،ویسي، وغوښتم ولاړم ، ووایه ، وفـرمـایـه ومي لید ، ولاړ ، وپـېرو داو وښـو د .

دغه ډول دامرد صیغو لـکه «ببر ، بروا وبزن » د «ba» پرې فـکس دپښتود «وبـسه ، ولاړشه او ووهه » په امرونو کنبي دورایه ځر گنددی.

دغسی‌د نفیسي‌په برخه کنبي هم چه نن په‌پارسو کنبي‌ددغه ډول «ba» شته والـی‌رت بـد بـرېښی لـکـه پـه « بنشنید ، بنگرد او بندانست » کنبي‌په پښتو کنبي‌په‌پوره فصـا حت د«wa» په‌بنه راځـی . لـکـه «وانه وریـد ، ونه کـړ او ونه پوهید » .

دپورته خبرونه داخر گنده شوه چه دپـارسو دا فعا لـو دتأکید«ba» په‌پښتو کنبي‌د«wa» په بنه راځی . مـگر په نورو- ځایونو کنبي‌د«Pa» په‌بنه‌راځی خودمخه‌ددي pa دتطبیق‌نه دپارسود«ba» سره دا خبره دیادولوده چه‌په پـښتو کنبی دغه«Pa» دگرامرلیکو نـکو اوفرهنـگ جوروونـکوله‌خوا دظرفیت د آداتوخـخه بلـل شوی‌ده‌لـکه‌د« په کـور کنبی» او« په‌پیاله کنبي » په‌مثالونو کنبی (۱)چه‌دایوه‌رته‌غلطي‌ده

(۱) بیهقی دطهران چاپ مخ(۱۶۵-۱۶۶)

(۱)اسرالتوحید مخ (۲۵۴-۲۵۵)

(۱)پښتوقاموس مخ ـ ۲۰۹

ځکه کومه «ba» چه په پاړسو کښې د دغه ډول «ba» په مقابل کښې راځي هغه همدغه د «زینت» ba ده نه د ظرفیت کوم توری. دادی د دی خبری د پوره اثبات د پاره دا لاندی تطبیقی مطالب ولولیء:

د برهان قاطع لیکونکی پخپله مقدمه کښې لیکی:

او پارسیان هم کله کله زائده «با» لری او په هغی کلمی کښې راځي چه وروسته له هغی د «بر» یا «در» کلمه وی. لکه: «تیرس به از آن کار گر آمده بسپر بر.»

چه مطلب د «بسپر» با ده. یعنی «برسپر» او داچه:

«زرین نهد او بتیر در پیکان را» چه مطلب د «بتیر» باده یعنی «در تیر پیکان نهد» (۱)

دغه ډول د سیستان په تاریخ کښې راغلی دی «خرمرد گاوان بیاوردند کارزاری و اندر افگندند بسرای قصر اندر» (۲)

دلته «اندر» مخففه بڼه د «در» ده چه د پنځمی هجری پیړۍ تر نیمایی پوری په همدی بڼه راتله او د «در» بڼه یی تر دغه وخته پوری نه لیدل کیږی.

یا داچه سعدی وایی:

بدریا در منافع بیشمار است
وگر خواهی سلامت در کنار است

بلخی رابعه وایی:

دلم چون چنبری گشته بدان امید تا روزی.
ز زلفت بر فتد ناگه یکی حلقه بخنیر بر

په پورته مثالونو کې د «بسپر بر» او «بچنبر بر» او «بسرای اندر» او «بدر یا در» معناوی په ترتیب سره داسی راځی:

«په سپر باندی» او «په چنبر باندی» او «په سرای کی» او «په سیند کښې».

خو کله که د پاړسو نه «ba» او برابریی د پښتو نه «Pa» لری کړو نو پاتی عبارات بیا داسی کیږی:

۱ـ د (بسپر بر) څخه (برسپر) د (بچنبر بر) څخه (برچنبر) د (په سپر باندی) څخه (سپر باندی) یا (برسپر) او د (په چنبر باندی) څخه (چنبر باندی) یا (پرچنبر) جوړیږی. چه هر عبارت یی خپله معنا سره له استعلا پوره ساتلی ده.

۲ـ د (بسرای اندر) څخه (درسرای) د (بدر یا در) څخه (دردریا) د (په کور کښې) څخه (کور کښې) او د (په سیند کښې) څخه سیند کښې) جوړیږی چه هر عبارت یی خپله معنا سره د ظرفیته ساتلی ده.

اوس نو وروسته له دی څیړنی نه په زغرده سره دا ویلای شم چه د (په کور کښې) او (په پیاله کښې) Pa، د ظرفیت د آدا تو څخه گڼل ستره اشتباه ده (۱) ځکه د پښتو د (په کور کښې) او [په میز باندی] عبارتونو کښې [Pa] د پاړسو

(۱) د برهان قاطع مقدمه مخ
(۲) د سیستان تاریخ، مخ-۲۷۲

۱- اما د پښتو Pet «پر» یا «پری» په روستا کی «Vrairi» یا «pairi» «اتیمولوجی آف پښتو مخ ۵۹» په سنسکریت کی «Vpari» په پهلوی کی «Vpar» (برهان قاطع، مخ ۷۹) ده په پاړسو کی «bar» یعنی په «b» دی نه د نورو زړو ژبو په څیر په «p».

دلرغونی د زینت د[ba] پـه مقابل کښی راځی، چه دا[ba] هیڅکله هم د ظرفیت د آداتو څخه نه ده ګڼل شوی.

دادی دپاړسو د زینت او تاکید د[b] او له پښتو سره دهغو د تطبیق په برخه کښی خبری چه په لنډ ډول سره تمامی شوی.

اوس دپاړسو اضافی [ba] را اخلم او ګورم چه دا[به] څنګه [به]ده؟ په کومو ځایو کی دڅه دپاره راځی او په پښتو کی په کومه بڼه یا په څه ډول استعمالیږی ځکه دمخه مـی دپاړسو د[به]prefin دوړو له وګاڼه.

۱ـ هغه چه دزینت یا تاکید دپاره راځی.

۲ـ هغه چه داضافت د پاره راځی.

دپاړسو اضـافی [ba] په برخه کی دپاړسو یو دیر ستر لیکوال داسی لیکی:

دافعالو په برخه کی موداسی یوه [به] ولیده چه دتـأکید دپاره په افعالـو بـاندی ورزیاتیدله.... مګر اضافه [ba] چه خاص دنو مـونـو د پاره ده. هغه «به» ده چـه په پاړسو کې ځانته عنوان لری او په پاړسو کې یو دمعناوونه ډك توری دی.

ددې «به» بڼه په پهلوی کې «pat» د «p» په زورا ود «t» په سـکون او «هزاورس» یې «پغن» ده. چه په هزاورس لیـکل کـیږی. دغه «ba» دعربی جاره «به» ته ورته ده.

«rat» په پاړسو کـې د بدلون دقانون سره سم لومړی په «پې» په لومړی زور او مهجوله «ی» بـدله شوې وروسته یې بیا مجهوله «ی» دژبی د بدلون دقانون سره سمه په غیرملفوظی «ه» بدله او «پی» د «په» په بڼه شوه. بیاورو. ور و دژبې دتطور په نتیجه کې لومړی «P» په «b» بدله او د «Pa» څخه «ba» جوړه شوه.

د ا لغت (ba) بایدرټ داضافی قید د تورو څخه وکڼو، او داضافی (ba) په نامه یې یاد کړو. مـګر پدې هم باید پوه شو چه په هر ځای کې ځانته معنا لری او دفن خاوندانو په ډول ډول نومونو یاده کړې ده او ځینو متـکلیفینو یو دېرش معناوې ورته پیدا کړی دی. اما په حقیقت کـې یې ځینی ډولونه دنورو ډولونو دمعنا تـکرار دی. (۱)

وروسته له پورته خبرونـه نوموړی لیـکوال د(ba) څو مثالونه راوړی خو سره له دی هم وایې چه دجـز ئیاتو دپاره دګرامر کتابونه وګوری.

دادی زه دده دخبرې سره سم د (ba) ډولونو مثالونه دپښتو سره دتطبیق دپاره دهغه ګرامر څخه را آخلم چه خپله بهار او دده ملګرو عبدالعظیم قریب، بدیع الزمان، فروزانفر. جلال همائی اورشید یاسیمی په دووټو کونو کې لیـکلی دی.

خوددی دپاره چه کـار لږ آسانه شی دهر مثال سره یې څنـګ په څنـګ دپښتو مثال هم ور لیـکم.

دوی وایی اضافی (ba) په لاندې معناوو استعمالیږی.

---

(۱) سبك شناسی ج۱ مخ ۱ ۳۸-۳۸٤

۱ـ په‌معنا دهمراه چه ور څخه دمصاحبت تعبیر کیږی مثلا:

بادب سلام کرد. بسلامت عزیمت نمود.

پښتو مثال:

په‌ادب ودرید. په‌خیرولاړ.

۲ـ زمانی او مکانی ظرفیت (۱)

لومړی مثال:

دهقان بسحرگاهان
کزخانه برآید
نه هیچ ببار آیدو نه هیچ بپاید

پښتومثال: یوڅو ورځی شگفته‌شی ژرفناشی په جوزا

دوهم مثال:

ای که گوئی بیمن بوی دل ورنگ و وفاست
بخراسان طلبم کان بخراسان یابم

پښتو دوهم مثال:

رنگارنگ گلونه واکا
هم په باغ په بید یا

۳ـ قسم لکه:

بکوئی بداداز خورشیدوماه
بتیغ وپلهر و بتخت و کلاه

پښتو مثال:

دچا دستر گو په نشومې قسم
دچا دمخ په پلو شومې قسم

٤ـ داستعانت دپاره ده مثلاً:

بلشکرتوان کرداین کارزار
بتنها چه خیزد از یك سوار

پښتو مثال:

هیواد په سړیو جوړ بنزی.

٥ ـ تعلیل، لکه:

بجرم خیانت بکیفر رسید.

پښتو مثال: په مرگ محکوم شو،

٦ـ په‌مقدار دلالت کوی مثلا بخروار سکر باشید.

پښتومثال: په‌لپه‌یې ورو بښل

۷ـ دخبرې په‌سراوپای کې راځی. مثلاً:

بنام خداوند جان و خرد
کزین برتراندیشه بر نگذرد

پښتومثال:

په‌نامه‌دپاك سبحان
پیل کوم پدا بیان

۸ـ دجوړښت او توافق دپاره. مثلا،

اگر جز بکام من آید جواب
من و گرزومیدان افراسیاب

پښتو مثال:

ورپه غاړه کړه گلك پړی
هسې ووا یه اسمان ته:
چه یازما په زړه پېرې کړه
یادې نه پر ېږدم دوران ته!

۹ـ دعوض اومقابلی دپاره لکه.

آسمان گو مفروش این عظمت کاندر عشق
خرمن مه‌بجوی خوشهٔ پروین بدوجو،

پښتومثال: دمینی په‌بازار کې جهان به‌نیمکه هم نه پلورل کیږی.

۱۰ـ دترتیب دپاره لکه:

دم‌بدم، دیاربدیار، کوه‌بکوه

پښتو مثال: کور په کور زیارت په‌زیارت، دېره په دېره.

۱۱ـ دتوضیح او تفسیر دپاره مثلاً:

بتن ژنده پیل و بجان جبرئیل
بکف ابر بهمن بدل رود نیل

(۱) دا بایدوو بل شی چه دلته «ب» پخپله ځانته دظرفیت توری نه‌دی بلکه بواضافی توری‌دی چه‌پدی‌ځای کې‌هم دنورو بېلو بېلو ځانو په څېر چه بېله بېله معنا افاده کوی، دظرفیت معنا ورڅخه اخستل کیږی. ځکه دلته کې» نشته.

پښتو مثال : په نظر لکه شاهین شه په همت لکه عنقا داؤ دپاړسو د اضافه «ba» تطبیق دپښتود «Pa» سره اما دامو باید په زړه وی چه د پښتو او پاړسو دواړو څخه د دې توری هغه مثالونه راواخستل شول چه یوازې همدلته د «ba» او «pa» دسره پرتله کولو دپاره په کاروو. که نه وی په دواړ ژبو کښې ډېر نور د استعمال ځایونه هم لری چه هغه ځانته جلا څېړنه غواړی .

دا دی اوس د پورته مقایسوی څېړنو نتایج په لنډ ډول سره داسې لیکم :

۱- دا چه په پښتو کښې د «pa» توری یوازې دآلیت او ظرفیت توری ګڼل شوی دی . (۱) یوه ستره غلطی ده چه باید درسته شی .

۲- د پاړسو داضافی «ba» په مقابل کښې د اوستا «wpa» د پهلوی د «pa» او د بلوچې د «aq» په څېر په پښتو کښې هم «ap» ده .

۳- دپاړسودزینت یاتاکید «ba» په پښتو کښې په دوو بڼو راځی .

الف: «pa» چه په افعالو کښې راځی اوپه پهلوی کښې «wa» ده مګر په اوستا کښې هم د پښتو په څېر «aut» ده.

ب: د «pa» په بڼه چه په پهلوی کښې «pat-pa» او په اوستا کښې هم «ura» ده .

٤- کله چه سړی د پښتو د «wa» په مقابل کښې دپهلوی «be» اود اوستا «awe» وینی دلته د اوستاد لرغونتیا او د «p» دقدامت له امله پر «b» چه وروسته به یې ووینی ءسړی ته د ورایه برېښی چه پښتو تر پهلوی څخه هم دلرغونتیا بڼه لری.

خوددې دپاره چه دغه خبره ښه ښکاره اود «w» او «p» لرغونوالی په «b» باندې برسېره پرپورته دلیل نور هم ښه څرګند شی د پهلوی دا لاندې عبارات دلته را اخلم ځکه د څو کلمو او یا انتخابی جملو له مخې قضاوت پوچ نه ښکاری .

له دینکرت څخه : «دارای دارایان هماك اپستاك چی گون زرتوهشت هیڅ او هر مزدپت گرپت و نپشتك دوپچین یوت پت گنچی سپیکان یوك پت دچوی نپشت داشتن خرمود.»

له یو بل کتاب څخه :

«اینك زرتشت دین آورد از فرمان وشتاسپ سه هزار و دوست خر کرت پت دین دپیوریه تختکیهاءزرین کرت ونپشت و پت گنچ هان اتهش نیهاذ (ځ) و اینك کجستك سکندرسوهت واندراودریاپ فکند دینکرت هیت خذا (خځا) یان . » (۱)

څرنګه چه خبری تطبیقی دی نودادی پاړسو یې هم را اخلم . یا په بله ژبه پاړسو ترجمه یې داده :

دیګر دارای پسر دارا همګی اوستاوزند راچنانکه زردشت از هر مزد پذیرفت

(۱) لکه په پښتو قاموس کښې لومړی ټوك .

(۱) سبك شناسی، ټوك ۱، مخ-۹

ونبشت در دو نسخه یکی بگنج سایگان ویکی دژ نپشت فرموده نگاه دارند.

هزار و دویست فرگرد بدین دبیری به تخته های زرین تعبیه نمود و نبشت و بنگج آن آتش نهاد، پس سنکدر ملعون دینکت هفت خدایانی را سوزانیده در دریا افگند.(۱)

یو بل مثال داسوریك له ونې څخه:

«درختی رست است تراو شترو اسوریك. بنش خوشك است، سرش هست تر. ورگش کنیا ماند برس انگور، شیرین بار آورد...

مرتومال وینای آن ام درختی بلند. بوژاوام نپردت کواز هچ تواور ترام بت وس گونگ هیر. ایم پت خونیرس دیك درختم نیست همتن چی. شه هج از خورب کذ (کځ) نوك آورم بار. مکوکان تخت او فرسپ او وات پانان. گیواگ روپ هچ از کرندکی کوپندش و برنج دمینك هچ از کرند اتوران ورنای. موك ام ورچیگران نالین ام ورهنگ پایان رسن هچ از کرندکی توپایها ماچند. میگ هچ از کرندکی توسرگونگ و چندهیزم ام اتوران کښې توسیچ بریژند.

تاپستان آسایك ام پت سری ستر ویاران. سکر ام ورچیگران دو شاب آژات مرتان تپنگوك مچ از کرند.. دارو کدان وینای شتروان. ستروی برند بچشکان بچشك آشیان ام مرویچکان سایك کاریاکان. خستك بی او کنم پت نوك بوم رست. کذ (کځ) ارژند مرتومك کوم بی نی وناسند. بغانم اوت زرین ویت اواین داند: آنك ژمرتومك کیش نیست می ونان هچ از باری خورند. - دت هم برت آویختند کذش آن گفته بوت درختی آسوریك»

پارسویی:

«درختی رسته است ورای شهرستان اسوریك. بنش خشك است وسراو تراست، برگش به نی ماند، وبرش بانگور، شیرین بار آورد. مردمان بینی من آندرخت بلندم، بز بر من بیرون می آید ورقابت میکند که من از تو برترم به بس گونه چیز. مرا به زمین خونیرث درختی نیست همتن. چه ساه از من تناول کند چون نو آورم بار، تخته کشی ها هستم ود گل باد بانها.

جاروب ازمن کنند که ورازند مهن ومان. گواز از من کنند که کوبند جوو برنج، دمنیك ازمن سازند آذران وزن (بادبزن) سوزه ام بزرگران را. وپای افزار ام برهنه پایان را ریسمان از من سازند که پای ترا بندند چوب ازمن کنند که پای های ترا ما چند (؟) (۱) میخ از

(۱) سبك شناسی توك ا، مخ- ۱۰

(۱) دا کلمه چه په پښتو کښې تر اوسه هم «موچنه» یا «موچنه او یوه لرغونې کلمه او تر پهلوی یورې ورسېدلی ده په «شودرایران، مخ ۲۳» کښې هم «پاها؟» په سك سره ترجمه شوی او دلته هم مرحوم بهار ته عجیبه برېښېدلی او سوالیه یې ورته ایښی ده.

من کنند کت سر نگونی
آویزند هیزم آتش هائی را
که ترا مهیا و برشته سازند ،
تا بستان سایه بانم بر سر شهر
یاران- شکرم بزرگان را-
دوشابم برای آزادمردان .
تبنگوی ازمن سازند.....
وداروودان بینی شهربشهربرند
پزشك بر پزشك . . . آشیان
مرغکاء نم وسایهٔ کاروانها
هسته برافکنم به نوبوم است
برای اینکه مردم فقر بسبب
من منتفع گردند . س . خهای
من باشد ازین علاوه بر این
داند نیز آنمردی که شراب
ونان ندارد که درآن هنگام
ازمیوهٔ من بخورند. دورقیب
و دوهم نبرد با یك دیگر
درآویختند وقتی که درخت
آسوریك این سخنان را گفته
بود . »
(سبك شناسی توك ، اصح
۱۰۸ ـ ۱۱۰)
اوس نو کله که سړی
پورته عباراتو ته لږ څه ځیر
شی سوری چه په لومړی مثال
کښې شپږ پلا «Pat» دپارسو
د «BA» په مقابل کښې چه په
پښتو کښې هم «Pa» او په اوستا
کښې هم «Uqa» ده راغلې ده.
دغسی په نورو کلماتو
کښې هم درې پلا د پهلوی
«P» دپارسو د «B» پمقابل
کښې راغلې ده .
په دوهم مثال یعنی د آسوریك
دونې په نظم کښې هم دا بدلون
دورایه څرګند دی.
یعنی هلته هم دپارسو «Ba»
په مقابل کښې څلور پلا
د پهلوی «Pat» ښکاره او په
همدې ترتیب پرته د «پت» او
«ه» څخه شپږ ځایه نورهم
د پهلوی «P» د پارسو د «B»
په مقابل کښې راغلې ده .
دغسی لس ځایه د پهلوی
«W» دپارسو «B» په مقابل
کښې راغلی دی . یا په بل
عبارت لس ځایه دپهلوی «W»
په پارسو کښې په «B» بدل
شوی دی ، چه موږ ددې بدلون
څخه دالاندې نتایج په لنډول
سره اخلو:
۱- د پښتو «Pa» په استایی
کښې هم «Vpa» ده په پهلوی
کښې «Pa,pat» مګر په پارسو
کښې «Ba» یعنې په «B» ده
نه په «P» .
۲- په عین ځایو او کلمو
کښې د «P» توری په «B»
باندې آری او لرغونی دی .
یعنی دلرغونو ژبو هغه کلمې
چه په «P» سره وی د نویو
ژبو هم هغه کلمې اکثر
په «B» سره دی . یا په بله
ژبه دلرغونو ژبو «P» په نویو
ژبو کښې تربدلون نه وروسته
«B» شوې ده .
۳- دلرغونو ژبو «W» په
نویو ژبو کښې ورو سته تر
بدلون څخه په عین ځای او
یا کلمه کښې «B» شوی دی
یا داچه دعین کلماتو یا آداتو
د «W» بنه تر «B» نه
لرغونې ده .
٤- څرنګه چه په عین ځای
او کله کښې د «W» کلمه
تر «B» لرغونې شوه ، له
همدې امله ویلاشم چه د پښتو
د «WA» بنه چه دپارسود تاکید
د «Ba» په مقابل کښې راغلې
او په اوستا کښې هم د پښتو په

بڼه یعنی «Ava» ده د پهلوی تر (Ba) څخه چه هغه هم د پاړسود تاکید د (Ba) په مقابل کښې راځی قدیمه او لرغونې ده.

یعنی د پښتو د افعالو د تاکید (W) برسېره پاړسو تر پهلوی څخه قدیم دی. مثلا د پهلوی پدې عبارت کښې چه د (چیځك هندرچ ی خرجوت کیشان) د رسالې څخه را اخستل شوی دی

(خرجوځ کیشان خرتوم دانشنان، پت پیتا کیه هچ دین بی گفت استت کوهر مزد کذ (کځ) او داځی پانچده سالك رسځ، اداکش این اند چیژ بی انستن اواید کو...)

پاړسویې:

(خرجود کیشان نخستین دانشان، به پیدائی از دین بگفتست که: هر مزد بعمر پانزده سال برسد هر آینه‌اش این چند چیز بدانستن باید.) (۱)

۵- برسیره د اوستا پر (AVA) چه د پښتو د (Wa) سره یو شان ده او برسېره د (W) پر هغه لرغونوالی چه په پورته دلایلو سره وښودل شوو د همدې پورته متونو په ځینو کلماتو کښې هم دا سی کلمې لیدل کیږی چه په پښتو کښې د نورو زړو ژبو په څېر په (W) سره وی مگر په پهلوی کښې د پاړسو په څېر په (b) مثلا د (برنج) کلمه چه د آسوریك دونې په شعر کښې راغلې او په پاړسو کښې هم «برنج ده» مگر په اوستا کښې (Vrvinj) په سنسکریت کښې (Vrihi) په یونانی کښې «Oryza» په عربی کښې «ارز» شوې وه. (۱)

او په پښتو کښې تر او سه هم «وریځه یا وریزه یا وریژه یا وریجه ده (دلهجو توپیر.)

دادی اوس ښاغلی لوستونکو وروسته له دې لنډې مقایسې نه په ښکاره ډول سره د پښتو د اصالت او قدامت په برخه کښې دا حکم کولای شی چه پښتو یا د پښتون ولس ژبه یوه آریایی ژبه او تر پهلوی یا د ځینو پوهانو په اصطلاح د پاړسو تر مور څخه هم یوه لرغونې ژبه ده. اما دا چه آیا تر نورو لرغونو ژبونه لکه اوستا او سنسکریت لرغونې ده او که نه؟ هغه هم د همدې مقایسوی ژب پوهنې ځواب دی چه په ورو وروسره به د ډار مستتر لدې خبرې سره سم: «پښتو د زند تاریکی هم روښانه کوی» پوره را برسېره او څرگندشی.

نو له دې امله زه بیا هم وایم چه د پښتو د اصالت او د دغې ژبې د څرنگوالی د څرگندولو ډېره ښه او معقوله لار همدغه تطبیقی ژب پوهنه ده نه هغه په اغراضو لړاې خیالی او له خپلې گېډې نه جوړې شوې ببولالی چه د مخه پرې وغږېدم.

---

۱ د مرحوم بهار ترجمه:

(۱) برهان قاطع مخ (۲۶۵)

دتولستوی اثر

مترجم ښاغلی سعدالدین

حقیقت

د ولاد یمیر په ښار کښې یو ځوان وچه ایوان، دمتریچ اکشنوف نومېده. اکشنوف دوه هټۍ لرلی او یو کوریی هم په ساو کښې لاره. اکشنوف یو ښایسته، خندنی ځوان وچه همیشه یی ښی خوږی بدلی ویلې له وړو کتوبه په شرابو روږدشو او چه نشه به شو نو به ډیر ورانکاری سړې ورنه جوړ شو. خو چه واده یی وکړ نو یی شراب پریښوول او کله کله به یې یو اځی غړ په کول یو دوه یو کال اوړی اکشنوف دنندارتون دلیدلو دپاره له خپله ښاره (نزنی) ته روان شو دخدای پامانۍ په وخت کښې ښځی ورته وویل «ایوان! نن مه ځه ځکه بېګا شپه ما یو وېرونکی خوب لېدلی دی»

اکشنوف په خنداورته وویل ته ډارېږی چه زه به په نزنې کښې په عیش ونوش بوخت شم ښځی وویل «زه پخپله هم نه پوهیږم چه ولې می زړه نه کېږی چه لاړشی دومره پوهیږم چه ډېر بدخوب می لیدلی په خوب کښې گورم چه ته دنندارتون څخه بیرته راوګرزی او چه خولۍ له سره بیرته کړی ویښته دی بیخی سپین وی. اکشنوف وخندل «سپین ویښته خو بختور شی دی. گوره چه که خیر وی زه به خپل مال خرڅ کړم او تا ته به ښی ګلالۍ تحفی راوړم»

نوخدای پامانی یې وکړه او مخ په نزنې روان شو. دلاری په نیمایی کښې یو بل تاجرهم ورسره مل شو. دواړو شپه په یوه ځای کښې سره تیره کړه او پس له چایه دواړه په دوو کوټو کښې چه څنګ په څنګ وڅملاستل.

اکشنوف عادت لاره چه وختی به له خوبه راپاڅیده. لمړلانه وور اختلی او هوالاسړه وه چه خپل ګاډیوان یی راپاڅاوه او دګاډۍ تړلو امر یې ورکړ. بیا نوسرای وان ته لاړ دشپی تیرولو او چای پیسی یی ورکړی او روان شو.

څه شل پنځه ویشت میله وړاندی ودرید، ګاډیوان آس ته اوربشی ورکړی. اکشنوف دکاواردو کان ته وخوت، چای یی راوغوښت او دچای تر رسید و یی خپل ګیتار راواخیست او په بدلوئی پیل وکړه

په همدې وخت کښې ووچه یوه بله ګاډۍ ددو کان ترمخی ودریده یو افسر تری راکښته شو، دوه سپایان هم ورپسی راښکته شول. افسر اکشنوف ته راغی او دده دنوم او هستوګنی ځای پوښتنه یی وکړه. اکشینوف ځوابونه ورکړل او بیایی دچای ست ورته وکړ. خو افسر خپلو پوښتنو نه لاس وانه خیست پوښتنه یی وکړ. «بیګا شپه دی چیرته تیره کړه؟ یو اځې وې که بل تاجرهم درسره و؟ هغه بل تاجردی نن سهر ولېد؟ دومره وخته دی ولی سرای پریښود؟

اکشنوف هك حیران ؤچه ولی دومره سوالو نه دده نه کوی افسر ته یی وویل داولی زما څخه داسی پوښتنه کوی لکه چه سړی یی له غل څخه کوی؟ نه گورې چه زه یو تاجر سړی یم چه پخپل کار پسی روان یم، دی پوښتنو ته څه حاجت دی؟

افسر سپایان را وبلل، مخ یی تاجر ته راواړاوه. وی ویل «زه ددې ناحیی د پولیسو مشر یم اوله تا ځکه دا پوښتنی کوم چه هغه تاجر چه تاشپه ورسره تیره کړه په کوټی کښی حلال شوی دی مو نیز باید ستا کالی ولټو و.»

افسر او سپایان دا کشنوف کالی او صندوق پرانستل او او په لټون یی پیل وکړ، دفعتاً د کالو له مینځه افسر یوه چاره راوویسته چه په وینو لړلی وه اکشینوف د چړې په لیدو وډار شو په تعجب یی وویل «دا په وینو لړلی چاړه زما په بکس کښې څه کوی؟»

افسر وویل «ته خپله د دی سوال ځواب ووا یه.»

اکشنوف ځواب ته خو له جوړه کړه خوزبون یی وهل شوی ؤ په سختۍ یی وویل «زه — نه پوهیږم — دا — چاړه — زما نه ده»

افسر وویل «نن سهار تاجر په خونی کښې مړ پروت وو، مری. یی چاپرې کړی وه ته یوا ځنی سړی یی چه دا کار دی کولی شو. ځکه چه سرای د ننه له خوا قلپ وواو غیر له تابل هیڅوك په سرای کښې نه وو دا په وینو سره چوړ کی هم ستا په بکس کښې ده. ستا بشره هم ښکاره سند دی اوس نو ووایه چه څنګه دی حلال کړاو څومره پیسی دی پټی کړی: اکشنوف قسم و خوړ چه ده دا کار ندی کړی او پس د شپی له چایه یی بیا تاجر په سترګو هم ندی لیدلی او غیر له اتو زرو روبلو چه د ځانه سره یی راوړی وی بله پوچکه هم نه لرله. خو دا کشنوف غږ ریږ دیده مخ یی سپین تښتید لی وو او لکه گناه گار داسی په لړزه ؤ افسر پولیسو ته امر وکړ چه دا کشنوف لاسونه و تړی او په گاډۍ کښې یی واچوی کوم وخت چه هغوی یی لاسونه او پښی سره و تړل او په گاډۍ کښې یی وغورځاوه اکشینوف سترګې آسمان ته کړی او په ژړا شو کالی او پیسی یی افسر تری واخستی او دښار بندی خانی ته ولیږل شو په ولادمیر کښې هم دده په باره کښې تحقیقات جاری شول دده کلیوالو او نورو تاجرانو وویل چه ده پخو اشراب څښل خو اوس ډیر ښه سړی تری جوړ شوی و بیا نو دی محاکمه شو. حکمی فیصله وکړه چه ده ریا زان نومې تاجر په چړی حلال کړی او شل زره روبله یی تری پټ کړی دی.

ښځه یی هکه پکه وه چه دا څه خبر شوه وړه تو سکوری زامن یی لرل ښځې یی زامن له ځانه سره واخستل او هماغه ښار ته را غله چه اکشنوف پکښې بندی ؤ. بندی خانی ته ورغله گوری چه اکشنوف

په زنځیر وتړل شوی او د نورو غلو سره یو ځای په غولی پروت دی اکشنوف ټوله قصه خپلی ښځی ته وکړه ښځی یی پوښتنه وکړه چه چاره څه ده ! ؟

میړه یی وویل چه یوا ځنی چاره داده چه سزارته عریضه ولیږو چه یو بیګناه سړی له مرګه خلاص کړی ښځی یی وویل چه «ما پخوا یوه عریضه سزارته ولیږله خوو یی نه منله » اکشنوف غلی شو .

ښځی یی وویل (مادر ته ویل چه ما بدخوب لیدلی تا نه منله) بیا یی خپل پوست لاس دمیړه په سر راتیر کړ او وی ویل (ایوان ګرانه . رښتیا ووایه چه داسړی تاندی مړ کړی) .

میړه یی په تعجب ور ته پاس وګتل وی ویل (ښه ! اوس نو ته هم را باندی شك لری) خپل مخ یی په لاسو کښې پټ کړ او په ژړا شو په همدې وخت کښې یو سپاهی راغی او ښځی ته یی امر وکړ چه ووزی اکشنوف د آخروار لپاره دخپلو زامنو او ښځی سره خدای پامانی وکړه.

چه هغوی لاړل نو اکشنوف په حیرت کښې لاړ. خپلی ښځی هم ور باندی دقاتل خیال وکړ. دځانه سره یی وویل «داسی ښکاری چه یوا ځی خدای په حقیقت پوهیدلی شی زه باید یوا ځی خدای ته زاری وکړم او یوا ځی له هغه مرسته وغواړم»

او پس لدې اکشنوف نوری عریضی ونه لیکلی او غیر له خدایه یی نور ټول شیان پریښودل او یوا ځی خدای ته به یی زاری کوله.

اکشنوف سایبریا ته ولیږل شو او هلته په معدنو کښی په کار واچول شو اکشنوف شپږ ویشت کاله په سایبریا کښی بندی وو. ویښتان یی لکه د سایبریا واوری داسی سپین شول . زیره یی رسیدلی وه. زوړ شوی و او په لاری به ورو ورو روان وو. هیڅ یی نه خندل او ډیر وخت به خدای ته په زارولګیاو، په بندیخانی کښی اکشنوف دبو ټوجوړول زده کړل او لږ پیسی یی له دی لاری پیدا کړی چه د «مقدسانو د ژوند کتاب » یی پری واخیست، او ترڅو چه به د بندیخانی له پنجری رڼا راتله ده به هغه لوست او دیکشنبی په ورځو کښې به یی د بندیخانی په کلیسا کښې مذهبی سندری بوللې.

د بندیخانی خلکو باندې اکشنوف ډیر ګران وو. او ده ته یی د بابا نوم ور کړی وو . هروخت چه به بندیانو دبندیخانی مشرانو څخه څه شی غوښتل نو به یی اکشنوف د خپل وکیل په حیث وټاکه او کله کله به چه خپله د بندیانو ترمینځ څه شخړه پیښه شو اکشنوف به دمینځګړتوب وظیفه اجرا کوله.

اکشنوف له کاله هیڅ خبر نه وو او حتی دومره هم نه پوهیده چه ښځه او زامن یی ژوندی دی که مړه.

یوه ورځی بندیخانی ته دبندیانو یوه نوی ډله راغله. ما ښام زاره بندیان د هغوی چاپیر را ټول شول چه گوندی دکاله خبرونه اویالز ترلږه دباندنی دنیا احوال واوری. اکشنوف هم د نو و بندیانو خبری اوریدی.

بو جگړه قوی بندی هم په دغو کښې وو چه د خپل بند قصی یی کولی.

ده ویل (ملگرو- مایو آس له گاډی خلاص کړو چه کاله ته زرورسیږم اوبیامی غوښتل چه آس بیرته دچا په لاس گاډیوان ته ورولیږم زه یی دغله په نامه دغه دی ونیو لم اوستا سوسره یوځای یم. ډېر کلونه پخوا می یوه گناه کړی وه چه باید هغه وخت دلته راغلی وای خواوس می هیڅ گناه نده کړی او چتی بندی شوی یم؟

دخبری په دې ځای کښې لږ تکنی شو او زرینی وویل «نه» ورونو مادروغ وویل ماهیڅ بله گناه نه وه کړی هسی خبرر انه غلطه شوه» چاتری پوښتنه وکړه چه دکوم ځای یی ده ځواب ورکړ «زما نوم ماکار دی اود ولادیمیریم خلك می دسیمیانیچ په نامه هم یادوی».

اکشنوف سررا اوچت کړ اووی وبل «سیمیانیچ وروره دولادیمیر په کلی کښې داکشنوف له کاله څه خبر لری دوی ژوندی دی که نه» سیمیانیچ ځواب ورکړ «اکشنوف کورنی ځنگه نه پیژنم ښه معتبره کورنی ده خو پخپله اکشنوف دلته چیرته بندی دی. چه هغه هم لکه مونږ څه گناه کړی وه او گوره بابا: ځنگه دلته راغلی یی»

اکشنوف نه غوښتل چه دخپلو بد وورځو قصی وکړی په لنډه توگه یی ځواب ورکړ «زه داشپږویشت کاله کیږی چه په خپلی گناه بندی یم»

سیمیانیچ پوښتنه وکړه «څه گناه» خو اکشنوف وویل «ښه. ښه البته زما په تقدیر کښې به همداشی ده»

اکشنوف نه غوښتل چه نورڅه ووایی خو نورو بندیانو دده قصه سیمیانیچ ته وکړه.

سیمیانیچ چه دا قصه واوریده نویی اکشنوف ته په تعجب وکتل او وی ویل (داعجیبه قصه در باندی شوی ده ته خو بیخی په بندیخانی کښې وروست شوی یی) نورودسیمیانیچ څخه دده دتعجب دسبب پوښتنه وکړه خوده ځواب ورنه کړ. یوالخی دوهره یی وویل (عجیب تصادف دی چه مونږ سره یوځای شو)

اکشنوف په زړه کښې شك پیدا شو چه سیمیانیچ ته به اصلی قاتل ښکاره وی نویی ورته وویل (ملگریه! گوندی ته راته داکشنوف دبنده څه معلومات راکړی یا به تاته څه حادثی ښکاره وی)

سیمیانیچ وویل (خلکو دپر شیان ویل خوله هغی ورځی شپږویشت کلونه تیردی اوزما څخه هرڅه هیر شوی دی.

اکشنوف پوښتنه وکړه (ښایی تاته به معلومه وی چه تاجرچا مړ کړ)

سیمیا نیچ په خندا وویل
(هغه چا به مړ کړی وی چه په
بکس کښې یې به وینو لړلی
چور کی ورته اینبی وی
نو تر څو چه د چور کی
داینبودلو په وخت کښې چا نه
وی لیدلی هغه څوك محاکمه
کولی نشي، بکس خوستا د سر
لاندی وونو ځکه ته دومره
ناخبره وی چه بل چا ستا په
بکس کښې چاره اینبو ده او
ته راوینې نه شوی) دې خبری
په وریدو اکشنوف وپوهید
چه همداسې دی چه تاجریی
وژلی اوچور کی یې دده په
کالو کښې منډلی وه.
له ځایه پاڅید او له ډلی بهر
ووت.
درسته شپه وینې وو او د
ژوندی بی اسروشیبو او بی وزلو
ورځو او دخپلې بی ګناهی
اوشپږ ویشت کاله بی موجبه
رنځ څیری بی مخی ته ودریدې
خپله بنځه او کوچنیان ورپه یاد
شول او خپله ځوانی او خندنی
څیره ورپه یاد شوه فکر یی
ورو ورو سفر کاوه، د تاجر
سره خبری اتری ورپه زړه شوی
دې فکرو دومره سره وزاپه چه
غوښتل یی خپل سر په دیوا له

وتکوی. اکشنوف فکر وکړ
چه دا ټول کار و نه همدغه رزیل
سیمیا نیچ وکړه. په زړه کښې
دا نتقام شغلی نخښدی.
له دی خبری دوه هفتی تیری
شوی. اکشنوف په دی دوو هفتو
کښې یوه ستر که هم په خوب
پته نه کړه یوه شپه اکشنوف
د بندی یخانی په غولی دې خواها
خوا ګرځیده د دیوال په بیخ
کښې یی یوه سوری ته پام شو
چه لکه د موږ کور خاوری
تری راوتی له دی سوری
د سیمیا نیچ سر شکاره شو او
چه اکشنوف باندې ئی نظر
ولوید له سوری راووځت خو
اکشنوف تری تیر شو سیمیا نیچ
ور یسی را وځغستل او
دی یی له لاسه ونیو راستون یی
کړ او ورته ویی ویل چه زه
هره شپه د محبس د دیوا له لاندی
لار کوم خاوری په خپلو بوټو
کښې راو باسم او هره ورځ
چه بند یان کار ته ځی دا
خاوری سرك ته اچوم
اکشنوفه وزوره ته چا ته څه
مه وایه ته به هم وباسو.
اکشنوف له قهره ریږدیده
او دخپل دښمن ستر ګوته
یی کتل. ځان یی را کاږه

او په قهر یی وویل زه
د بندیخانی څخه د تښتی
خیال نلرم زه اوس له ژوندی
وتلی یم شپږ ویښت کاله
کیږی چه زه مړ یم بله ورځ
چه بندیان کار ته وایستل شوه
یوه سپاهی ولید چه یو بندی
لخپله بوټه خاوری را او باسی
محبس واټول شو او سوری یی
بیا موند
حاکم د تحقیقاتو دپاره مړ اغی
او له بند یانو تحقیقات شروع
شو چه د اسوری چا کینو دلی
دی. ټولو انکار وکړ چا چه
سیمیا نیچ پېژاندی نه یی
غوښتل چه هغه د حاکم په لاس
کښې ورکړی په آخره کښې
حاکم اکشنوف ته مخ راوړاوه
ځکه چه د ده په ښو اخلاقو
او رښتیا ویلو خبر ؤ.
وویل، ته یو صادق سړی یی
خدای په نظر کښې ولره او
ووایه چه دا کار چا کړی دی،
سیمیا نیچ زانته بی ګناه
څیره نیولی وه او لکه چه
هیڅ د دې واقعی سره مینه
او تعلق نه لری داسی بیبا که
ولاړ ؤ. د اکشنوف شونډی
او لاسونه ریږیدل او د پر

وخت یی خبری نشوی کولی.
دځانه سره یی ویل« ولی زه
د خپل دښمن زاروساتم .
پریږده چه هغه ورځ پری
راشی چه په مایی راوسته خو
کیږی چه زه تیروتی یم اودده
په مرگ کښې زما څه گټه ده؟
حاکم ورته منتظره ولاړو
په بی صبری یی وویل « ښه
اکشنوفه رښتیا وایه دا
دیوال چاسوری کړی دی ؟»
اکشنوف سیمیانیچ ته وکتل
او وی ویل « نشم ویلی ،
دخدای دا اراده ده چه زه
به دا حقیقت دځانه سره ساتم
هرشی چه دی زړه غواړی په
ماو کړه زه هیڅ شی نه وایم»
حاکم ډیر زیار وایست خو
اکشنوف هیڅ و نه ویل .
په هماغه شپه ، اکشنوف
په خپل ځای کښې پروت و
او نژدی یی ستر گه پټه شوی
وه چه څوك په کراره دده
دبستر په څنگ کښیناست
اکشنوف په تیاری کښې
وپیژاند چه سیمیانیچ دی
اکشنوف ورته وویل« نورڅه
رانه غواړی .ولی بیار اغلی .

خو سیمیانیچ غلی و اکشنوف
راکښیناست وی ویل« څه شی
غواړی . زرله کوټی ووزه او
که نه پولیس ته غږ کوم »
سیمیانیچ خپل سر ټیټ کړ
اوپه ورو غږیی اکشنوف ته
وویل« ایوان دیمتریچه ماو بښه»
اکشنوف پوښتنه وکړه« ولی
دی وبښم» سیمیانیچ وویل
« ماځکه وبښه چه ته زما په
تور بندی شوی وی ، ته بیخی
بی گناه یې ،هغه تاجر مامړ کړ
او چوړ کی می ستا په کالو
کښی پټه کړه .
اکشنوف غلی ناست وواو
نه پوهیده چه څه ووایی
سیمیانیچ ورته په زنگنوشو
وی ویل، اکشنوفه ! ماو بښه
دخدای دپاره ماو بښه زه به
سباته حاکم ته اقرار وکړم چه
تاجر ماوژلی ، تا به له بنده
خلاص کړم .
اکشنوف ځواب ور کړ
«خبری تا ته اسانی دی خومادا
شپږ وبشت کاله ستا دپاره
رنځ وگاله ، اوس نو که
خلاص هم شم چیرته لاړ شم
ښځه می سړه ده او زا منوهم
زه هیر کړی یم اوس که

خلاص شم چیرته اوچا ته لاړشم
سیمیانیچ له قهره سر په ځمکه
ټکولو او چغی یی وهلی
« اکشنوفه ، ماو بښه کوم
وخت چه زه سپایانو وهلم او
سره تیل یی زما په سر اچول
دومره ونه ځوریدم لکه اوس
چه ځوریږم ماتاسره دومره
جفا وکړه اوتا پرون له ابدی
بنده وژغورلم زه ډیر گناه
گاریم اکشنوفه خود خدای
دپاره ماوبښه » او په سلگو
پیل وکړ اکشنوف چه دسیمیانیچ
سلگی واوریدی ده ته هم ژړا
ورغله، په ژړا کښې یی وویل
«خدای دی وبښه »زه پخپله
گناهگار بنده یم زما له خوا
غم مه خوره ما بښلی یی» پدې
خبری سره سم یی زړه رااو
چت شو نوریی دکور او
دخلاصیدو سره مینه نه وه نه
یی غوښتل چه بندی خانه
پریږدی خوسره له دی چه
ده خپل خلاصون نه غوښت
سیمیانیچ سباته دحاکم په
مخ کښې پخپلی گناه اعتراف
وکړ . حاکم دا کشنوف
دخلاصی حکم صادر کړ کوم
وخت چه خلکو داخبر
اکشنوف ته راووړ مړوو .

څېړونکی محمدعالم اتمان

زه فلالوګ نه یم

هوا زه فلالوګ نه یم او په دې باب کښې کوم لیك لوست او کتنه لرم - مګر کله چه دها خپلې ژبې (پښتو) کوم لغت یا ګړته ځیر شم، بیا نو له ها خپل وس سره سم د هغه رګ، ریښه او جرړې ښووی شم، چه دا لغت له پلانۍ کلمې اخیست شوی، او معنا، ولې یې دا دی.

اوس ګوری ء ا

د (ترکودی) ګړیا لغت دمونې (مثال) په توګه سپړم او د هغه درغښت، جرړو او معنا په خواوشا کښې څېړنه کوم چه دا لغت له کوم ګړیا کلمې اخیست شوی او څه معنا لری؟

د ترکودی لغت له دوو ګړو یا کلمو رغشوی، چه یوه (ترك) او بله (ودی) ده - چه (ترك) د ترکول یا ترکېدل د فعل ما ده یا اسم صوت او (ودی) هم لکه (خوری) یو فاعلی نوم دی، چه له (ودې) اخیست شوی او د (نشونما کوونکی) معنا ورکوی.

د ترکودی لغت پښتو او معنایې هم (نبات) ده - او لکه څنګه چه (نبات) په هر (ټوکېدونی یا زرغونیځ) دلالت کوی، د ترکودی ګړ یا لغت هم داسې په ګردو (بوټو، وښو، او ونو، غنو) چه د ترکودو خېلو نه او انواع دی. دلالت کوی او زرغونیځ بی هغه، دغه درست په ها خپله لو او معنوی لمن کښې را نغاړی.

د ترکودی د نومو لو وجه: څرنګ چه د ترکودی نونې (دا نې) بند، بېخ له ها خپل خښلون یا کروروسته دها خپل ځایی (طبیعی) خوی، موسم او شا و خوا لنده بل له امله، لومړی په نواخیستو، پړ سېدو او بیا په ترکېدو (چا ودو) او (وده) پیل کوی نوخلك دهمدې له امله ورته ترکودی وایې.

ترکودې خېل، خېل او هر خېل یې بیا راز، راز بڼې. رنګ، رغښت. او نومونه لری او سړی کولی شې چه هر خېل یې دها خپلې بڼې، رنګ رغښت او نوم له مخې وپېژنی د ترکودې لغت ځینو ته دها خپل نه معلومات له کبله) نوی بی معنی او غپر مانوس بریښی او هغه تل په (بوټی یا ترخه) ترجمه کوې - او حال دا چه (بوټی) د ترکودې یو خېل او معناً تری ووړدی یعنی کومه معنا چه د (ترکودې) په ګړ یا لغت کښې ده، هغه بیا د (بوټې یا ترخې) ګړ کښې نشته،

هو! بوټی خو ترکودې ته ها حکم یا نسبت لری، کوم چه یی غنم، غلی او یا خویې ممیز مېوې ته لری.

یعنی لکه څنګه چه دغنم لغت دغلې ، اود ممیز ګرد میوې لغت معناً نشې افاده کولی ، اویواځې په (غله ، میوه) کښې ها خپل نوم ، یا نوعیت ښیي .

دبوټی ګړ هم داسی دی ، چه ترکودی معناً نه افاده کوی ، اونه دهغه په ځای لرو معنا راتلی شي ، بلکې هغه هم لکه‌ها د (ممیزاوغنم ګړچه په غله ، میوه کښې‌یې تش خپل نوم ، خیل اونوعیت ښودنه) په ترکودې کښې‌خپل نوم ، او نوعیت ښیي .

اوس نوزه ددې‌دلیل اومنطق په اساس (بوټې) دترکودی په‌معنا اخیستل غلط اوبی معنا بولم ، ځکه‌چه بوټی‌دترکودی ها خپل او برحه ده ، چه په (کره ، کهی یاچاری) وال (وهل) کیږی ، اوخلک‌یې ئې په بام‌اچولو یاسون دپاره پکاروی ، لکه (ترخه ، ګونګه زرلرګه ، ماخی) اونو چه په دې صورت دترکو دې نور غټ خپلونه لکه (ونې ، غنې ، وانبه) اونور ترې جلا اوبهر پاتیږی .

اوس نود (بوټی) په ځای یوه داسې جامع او پوره کلمه پکار ده ، چه زرغونیځ ټول په هاخپله لواو معنوی لمن کښې راټول اویوهم ترې بهر پاته نشی ، چه هغه هم یو ځای اویواځې ترکودی دی .

دترکودې لغت نوی نه ، بلکی زور اویو جامع خوږ لغت دی - او دها خپلی معنا او خوږلتګی له امله‌په هاخپل ځای او موقع کښې ساری نه لری .

دالغت یواځې دانه چه په ځینو پښتنی سیمو ، غنیدا (محاوره) او کتابو کښې شته دی‌یا بلکی‌دپوهنی په هغو تدریسې او مسلکی کتابو کښې هم راغلی کوم چه له (١٦ بیاتر ٢٤) سنې‌له پارسو یا نورو ژبو په پښتو ترجمه او خپاره شوی دی .

اوس نو که څوک ددې پاسنې منطق او سپړ نسی سره بیاهم (بوټی) د(ترکودې) په ځای او معنا استعما لوې ښایې لمړی یې تحقیق وکړی اوهغسی یې ثابته کړی .

ماپدې تتبع او څیړ نه کښې خپله وجدانی دنده (وظیفه) ترسره کړه ددې دوو کلمو (بوټی ، ترکودې) لغوی او معنوي توپیرمې ښوو لی‌دی - نورنو پښتانه پوه شه او کاریې :

پای



د آلفرد دووینې له آثارو څخه .

د الهام ترجمه :

آلفرد د فرانسې رومانتیك شاعر (۱۸۶۳ - ۱۷۹۸) د «شباترتون» په نامه په درې نندارو کښې یوه ډرامه لري چه د یوه زلمي شاعر په خودکشۍ ختمیږي .

د فرانسې ادبیات دغه ډرامه د خپلو شاهکارونو یوه برخه ګڼي . د دې اثر دمقدمې په ترڅ کښې د ادبوالو په باره کښې منتقدانه تعریفونه دلیکونکي په قلم ګڼل شوي دي ، که څه هم دلیکلو له وخت څخه منلې اوس ۱۲٤ کاله تېرشوي دي ، خو بیا هم تعریفونه او انتقادونه ډېر په زړه پورې اوصحیح بریښې او په ننۍ نړۍ کښې هم مطابق لري .

دا ترجمه د « شاترتون » د مقدمې یوه برخه ده ، نه ټوله .

ادیب - لیکوال - شاعر

کله ، په ټولنې کښې داسې یو سړی وینئ چه په یوې مخصوصې چالاکۍ سره د ژوندانه له ټولو لوړو او ژور سره آشنا وي ، او په هرځای او هر محال کښې دوګړو د سانیو او نمانځنو سره مخامخ کیږي داسړی له هرچا سره او په هره موضوع کښې غوره والی څرګندوي .

د نړۍ او انعطاف عجیب استعدا د پکښې پروت وي که د کوم کار تکل وکړي نویې په ښه توګه سرته رسوي ، او که وغواړي چه کوم مطلب خلکو ته بیان کړي نو بیې ښکاره او څرګنده بیانوي هیڅ یو شي ، دده د مدبرانه ژونداو د منظمو فعالیتونو د جریان مخه نشي بند ولای . خوشاله ، آزاده او منظم روح لري . هروخت آماده اوحاضرجواب وي .

په ده کښې د رښتیا نیو اضطرابونو او هیجانوتو څه پته او درك نه وي په ډېرې زبردستۍ او مهارت ، خوندوري کلمې د توپ په شان مقابل سړې ته ورغورځاوي تجارتي لیکنې د ادبي آثارو ، او ادبیات د معمولي کرښو په شان لیکي . د کوم هنري اثر او یا ادبي نقد په باب کښې علی السویه نظریه ورکولای شي او دیو اثر دسبك اودبل کتاب د لوستو په باب کښې بیانونه اوتوصیې کوي .

دیو لړ داسې جملواوخبرو سره آشنا دي چه د انسان د ربړونو ، ډپ ، تفنن او خوښیو د ظواهرو د ښودلو دپاره پکاریږي ، مګرددغو عواملو اصل محض د خپل خیال او تصورله کړکۍ څخه وینې . لکه داسې چه له ورایه ېې کومه سپېږموته

رسیږی مګر نه وی خبر چه کوم ګل څخه راپورته کیږی. ددغو شیانو په حقیقت هم نه پوهیږی او نه یې احساسولای شی، بلکه صرف ګمان کوی.

د کلمو دراوړلو او بیانولو ځایونه او د احساساتو دښودلو وختونه ډېر ښه پیژنی، او هر وخت چه ورته اړشی په مناسبو او وړو مواقعو کښې ور څخه کار اخلی. په هماغه شان چه ځینی خلك پر خپلو اصلی څېرو نقابونو غوړوی، دی هم خپله ژبه په راز راز خبرو او ویناسمبالوی کولای شی چه یوه وخت کښې یوه کمیدی درامه ولیکی او هم دیوه مړی د تابوت په مخ کښې موعظه ووایی هم رومان لیکی او هم مورخ دی. منظوم مکتوبونه او تراژیدی ډرامې لیکلای شی. قطعې جوړوی او سیاسی ویناوی کوی. د آثارو د پېژندلو دپاره ددی پر ځای چه لومړی د الهام په معنې وپوهیږی او بیاوروسته د اثر سبك او ډول ته ځیرشی، د صرف د نحوی د قوانینو په تله سنجوی دی قادر دی چه هره موضوع په عامیانه او ډېره پسته ژبه او په روانی او سلاست وڅیړی او خبری او تبصرې ور باندی وکې.

دا سړی ادیب نومیږی

د ټولو ښه ایسی، او ټول خلك یې په ښه اخلاق اعتراف کوی او په درنه سترګه ورته ګوری. لدې امله چه سپك دی او پرهیچا باندې درندوالی نه لری، هرې غېږې ته یې چه زړه وغواړی لاره خلاصه ده. د خپلې زمانی ګران او خواخوږی سلطان دی. اتلسمی پېړۍ ډېرو داسې انسانانو ته د شهرت تاج ورپه سر کړی دی.

داسې سړی هیڅکله زړه سوی ته اړ نه دی.

* * *

له ادیب نه په پورته پله کښې دیو بل سړی ځای دی، چه ترده نه د قوی او عالی طبیعت خاوند دی. دخپل ژور او کلك ایمان له چینی څخه پرسپېر و ډاګونو باندې د آثارو لښتی جاری کوی دعزلت او یوازیتوب په ګوټ کښې دخپلې فلسفی په تکمیل اوسرته رسولو بوخت دی خپله فلسفه یې په ډېر دقت او ځیر سنجولی او د ځنځیر په شان یې په لاس کښې لری. دی پوهیږی چه څنګه لومړې کړی د خپلی اندېښنې سره داسی چخت کښ چه وروستی کړی هم په همغه ټکی ختمه شی او ټول فکرونه له ټولو کړیو سه اړیکی ولری. حافظه یې خورا سمسوره او تقریباً نه تېروتونکې ده. سلیم قضاوت ولری دخپل مراد او مقصد نه پرته د بل شی فکر او سودا ورسره نشته او هیڅ کوم بل راز تشویش نلری. پرته دخپلو هغو غمونو څخه چه دده دخپلو غمونو څخه زېږېدلی دی بله کومه سودا او غصه زړه ته نه را پرېږدی کوښښ او آرامه سړی دی. نبوغ یې هغه وخت چه په کومه واقعه کښې یې د کمال ترحده پورې پکار واچوی ښکاره کیږی دسلیم عقل بهترینه نمونه ده.

ویناوې ئې رښتیا . واضحې اوبې پردې او کا رو نه ئې دلویو خلکو په لیك دی . په یرغل کې دډېر توان او زور څښتن دی .

زښته ډېر دامورو دانتظام اورنمائې طرفدار اومحتاج دی هغه خلك چه دی ویناورته کوی او سمولارو ته ئې بولی او په درنه ستر گه ده ته گوری، شامدام په ستر گو مجسم کوی .

د باطنی کشمکشونو دسکروټو اوانگا رونو لمبې د ده دژوندانه اوآثارو در من ته اورونه ورته کړی دی. زړه ئې له یو ستر توپان څخه ډك دی اویوه پټه شانته غصه او نفرت دده وجود خوری، مگر دسمو استدلالونو اوښه منطق په زور ورباندې بریالی کیږی او ځان نه پرې پوهوی .

سره لدې ټولو احوالو نو، بیاهم پر خپله هغه لاره باندی چه تکلی ئې ورته کړی دی رهی کیږی . پدې ښه پوهیږی چه په څه چم دزړونو په ژورو کې تخمونه وشیندې او بیا ورته هومره په صبر او تأمل و گوری چه شیندل شوی تخمونه شنه شی .

دی پرخپل نفس غالب اود زیات شمیر خلکو پرارواحو مسلط دی او داخلك د خپلی ارادې په قوت له لویدیځ څخه ختیځ ته راکاږی.

دیوملت واگی یې په لاس نیولی دی او کله چه گوری نورو خلکو دده په باب کې گروهی څرگندوی، نو خپل ځانته پخپله احترام کوی او خامخا دخپل ژوندانه چار چاپیر په نظر کې نیسی .

دا سړی یور ښتیانی عظیم الشان لیکوال دی .

بدمرغه سړی ندی . څه چه ئې غوښتی وی لری ئې. په جنگ کې ئې وسله مهربانی او ښه سلوك دی اوددښمنی دختمیدو داعلام نه وروسته د واړی خواوی ورته په درنه ستر گه گوری. که دی پخپله غالب شی یامغلوب، هیڅکله او په هیڅ طریقه ستاسی دزړه سوی حاجت ورته نشته .

مگر یوبل شانته طبیعت خورامین، ډیرسپیڅلی اوزښته نایابه هم شته. څوك چه ددې طبیعی خاوندوی، نسبت وهرهغه شی ته چه الهی نه وی بې لاس وپښو اوناتوانه دی . دداسې سړی موجودیت له ښه مرغه دده په لحاظ او له بده مرغه دبنی نوع انسان په لحاظ ډېر شاذ او نادردی، اوپه ټال ټال ددنیا پرمخ ځان ښکاره کوی .

ددغه راز اصیلواوبزرگو لارو خلکو ظهور چه دالهام مرتبې ته رسیدلی وی ددې دپاره دی چه په نړۍ کې دنورو داوږو بار وی . دشورېدگی حال دده له ذراتو سره داسی نغښتی وی چه دکمکیتوب له مهال ئې دجذبی تحیراونه ختمیدونکی تخیلاتو اوابداعاتو دسیند په څپو کې ئې لاهو کړی وی . دوهم او تصور قواوی له ټولو خواؤ څخه دده وجود متنبه کړی وی. خو دخپل غښتلی روح په مرسته په هرې موضوع په یوه عجیبه حافظه او سم او نافذ شعور

پوهیږی او قضاوت ور باندې
کوی. دده قوتونه د آسمانونو
خواته هنك الوزی.

د ډیر و مختصر او ورو
تصادماتو په اثر دده روح په
غور ځنګ شی او په یو پوه
والوزی او په هغو فضا وو کښې
چه د بنیادمانو لاره ورته نشته
لپواله اولالهانده ګرزی.
د اتماشه او تندارې په نه
معلومیدونکو نړیو کښې دده
د روح جاوید عادت دی.

وروسته له دې دده د هغو
خلکو سره چه عطش و نه لری
او صرف دژوندانه د ځینو خبرو
په لومه کښې سه پاتې وی څه کار
نشته. دده احساسات ډیر تاوده
شوی او داتودوالی چه نورئې
ډیر سطحې احساسوی دده تر
هډونو پوری نفوذ کوی. دده
غمونه دده نابود ونکی او
خوشالی ئې ډیری لنډی دی.
دیو عجیب شانته وجد او نشاط
له امله په بله خوا او بنتی او
حقیقی جذبه ئې ور په برخه
شوی ده. بیوزلی ډیر لږ ورځخه
خپه کیږی او د نورو د مصیبتونو
په لیدو ئې ساحسیږی. د بشر
د ردونه، ربړونه او کینې دده
د مړ او تیوب ستر علتونه دی
اوور سره په نورو فکرونو
او لوبو غمونو ککړیږی، ځکه
چه دی په هرشی کې تر نورو
ژوری کتنې لری او په هر شی
ډیر ښه پوهیږی، نو ستر ګې ئې
د داسې علتونو په لټولو لګیاوی
چه د نورو د زړونو د تورېدلو
او د تحقیر اسبابونه را پیدا
کوی او حال داچه د نورو
ستر ګې ظواهرو ته ځیر دی
او علتونو ته ئې فکر نه رسیږی
له دی کبله چپ وی.

او له خلکو څخه ځان
لیری ساتی - خپله خپل ځان
لیری ساتی خپله خپل ځان کښې
ننوزی او ځان پخپل ځان کښې
بندی کې.

دده له سوزه او ګذاره
په ډک سر کښې آتشفشان غوندې
یوشی د تکوین په حال کښې
دې بی آوازه او رچه ورووروئې
د آتشفشان په خوله کښې راتول
شی او نابیره ئې لمبو د آسمانی
موزونو سندرو په شکل فوران
کوی - حتی چه پخپله دی هم
د دغه فوران له وخته نه دی خبر
او دغه آسمانی نا پیشکو ئی
شوی حقیقت د هغه شی سره چه
دده په لاره کښې ګډ
آسنا نه وی.

په داسې حالت کښې چه د دده
وجود ئې قوتونه د دده د طبعی
التهابونو په زور له کار و ګلی
وی کام اخلی. د ر نحور په
په شان مخکی ځی مګر
نه پوهیږی چه چیرته روان دی.

دی دې ته اړدی چه « هیڅ
کار و نکړی » تر څو چه هغه
هڅه چه دده د هنر په ګټه
تمامیږی و کړای شی. هو کی
ده لره ښایې چه هیڅ کوم ګټور
او مثبت کار و نلری تر څو چه
د خپلو نغمو او روبدلو ته فرصت
ولری چه د دده په روح کښې سره
ترکیب شوی دی.

د ژوندانه وچ او عادی
مسخره کارونه د دده د آهنګونو
او سندرو د قطع کیدو او
ګډودیدلو علت دی.

دی شاعردی !

له ټولنی څخه ایستل شویدی کله که ځان ډر و ښیی خپلی اوښکی اومهربانۍ دده په پښو وروښندیء ویې بخښی اودلاس نیوی دپاره ئې لاس و غزویء دده آینده ورتامینه کیء ، ځکه چه که دی پخپل حال پرېږدیء پرته له حپله فنا او نابودی څخه بله لاره نه غوره کوی.

دځوانۍ په مستۍ کښې وی چه دده دتفکر قوت ښکاره شی اوپخپل نبوغ و پوهیږی په همدې وخت کښې وی چه دطبیعت اوبشر یو شدید اوزورورعشق اومینه دده زړه ته لاره وپرانیږی او په همدغه موقع کښې وی چه خلك هم ورڅخه مخ وګرزوی اوویې رټی .

دی خلکو ته چیغی وهی چه « تاسو ته وایم ! » مګر ټولنه غوږنه ور ته ږدی او ورته په په ځواب کښې وائې « ته اپلتې وائې ستا په خبرو موږ نه پوهیږو اوحق هم لری.»

ځکه چه دده په منتخبه ژبه باندې پرته له څوتنو چه هغه همدی پخپله دځان دپاره غوره کړی وی نه پوهیږی .

مقدونی بیا چیغه کړه او په ډیر شدت ئی آرته بازیوس ته وویل:

نه‌نه د نن او سبا انتظار عبث دی . امر دی چه همدا اوس دستی دارا کوزیا د نیولو دپاره حرکت وکړی .

آرته بازیوس ته حکم دی چه سم دواره د پوره پوځونو سره روان شی ....

شومه قلاره وه . د هیڅ ځای نه‌آواز او ښکا لو نه راتله . چوپه‌چپتیاوه اودشپی په هغه چپتیا کښې دمقدونی فاتح چیغو اوامرونو، په هغه لمنه کښې عجیبه‌انعکاس کاوه او دسردار قاصد او اوناسیس زړونه ئی په لړزیدو راوستی ؤ .

نورآرته بازیوس هلته ونه درید ، د فرمان د اجرا دپاره او په‌آرا کوزیا باندی دحملی په نیت دهغه ځای نه را ووت برابر خپل کیمپ ته راغی اوهلته ئی دجنګی جامو اغستلو نه وروسته، افسران ځانته راوغوښتل اوپه ارا کوزیائی دحملی فرمان اوامر هغوته ورساوه اووئی ویل همدا اوس لس زره تنه روان کړیء ، تاسوبه زماسره ئی‌حمله به لمړی دفرساګ نه شروع کوو .

پوځونه په لږ ساعت کښې تیار شول ، غټ غټ آسونه لکه پیلان اوداوسپنو په‌جامو کښې چه مقدونی لښکری اخوادی‌خوا

گرځیدلی ، ځمکه به د زلزلی پشان لړزیده او خوزیدله.
دلس زرو تنوچه فولادی خولو نه په سر او زغری په تن وی،
داسی معلومیده تا به ویلی چه دځمکی په مخ چا د فولادو او
وسپنی تغری غوړولی دی .

آرته باز یوس چه ځان حرکت ته جوړ کړ نو په دې وخت
کښی او ناسیس او د فرساگ قاصد د اراکوزی پیغلی سره
چه په منځ کښې ئی په کراره کراره را روا نه ده را ښکاره
شو او چه جرنیل ته را ورسیدل نود سکندر مخصوص سپاهی
دسلام سره وویل :

اعلیحضرت دا پیغله دیوی بندی په حیث راولیږله چه دجرنیل سره
اراکوزیا ته لاړه شی هلته به ددې جینۍ دوجود نه داسی
کار اخلی چه دتندر ډله په هیڅ شان سره تاسو ته څه ضرر او
نقصان ونه رسوی. ځکه چه هغو ته دخپلی مشری ژوند دهرڅه
نه زیات دی.

اراکوزی پیغله لاهماغسی ناتوانه وه ښه په لار نه شوه تللی. او
چه کله ورته آرته بازیوس اس و دراوه نو په ډیره سختی پری
سوره شوه او ځان ئی ټینک کړ، خوسره ددې به هم دځانگو
په شان ځنگیده.

دفرساگ قاصد به کله کله دستر گولاندې، پیغلی ته کتل، دهغه

مخ ته ، ستر گوته ، وریځو ته ، وینبتونه ، سر او سینی ته به ئی
په ډیر شوق کتل او په هغو لیدو کښې به ئی رنګ سور سور کیده.
او ناسیس خپل اس قاصد ته ور کړ او بیا ئی آرته بازیوس ته وویل:
اعلیحضرت فرسا ګ ته په اسانه رسیدو د پاره دا (!) درهنما په ډول
درولیږه او....
آرته بازیوس داو ناسیس خبره پریکړه ، په لاس ئی اشاره
وکړه او بیا ئی په ډیر عظمت او جلالت د حرکت امر وکړ....
شپه ډیره تیره وه. دقلاری شومی نه هم څه وخت او وبتی و
چه دمقدونی فاتح لښکر دجنګ او حملی دپاره روان شو،
اراکوزی بیغله هماغه شان په اس پرته وه او دوار و خواوته
ئی آرته بازیوس او دفرسا ګ قاصد روان و....
داسمان په را تیټو لمنو کښې به کله کله دګړ ګړ غړمبار
اود برینبنا پړ کونه اوریدل کیده، دبرینبنا په رڼا کښې په
زغرو پټی لښکری داسی ښکاریدی لکه دلری نه چه سړی
دسپوږ می په رڼا کښې دسمندر او بوته وګوری..
دساعت نیم لاری وهلونه پس دفرسا ګ قاصد یونانی
جرنیل ته ور نزدی شو. او په کراره ئی ورته وویل:
ګمان کوم چه اراکوزی بیغله د مرګ په حال ده،
شیبه په شیبه ئی ساه بندیږی او دهغه مرګ خو....

آرته بازیوس دقاصد خبره په خوله کښې پرېښوده اوبې اختیاره ودرید، مخ ئې پیغلې ته کړ او دلیدونه پس ئې، قاصدته په حیرت اوویرې وویل:

اوه نه نه ... فتح امر کړې چه هغه باید ژوندی پاتې شي، دهغې مرګ..، اخ خدایه دا به څنګه شي... زه خو... زه خو... قاصد ئې په خبره کښې ورتوپ کړه اووئې ویل.

که جرنیل اجازت کوی زه به د هغه سره څو ملتې د لته پاتې شم یعنې کوزه به ئې کړم د دوا د رمل د پاره..، څه نه څه ما سره شته دی اوچه ښه شوه نو بیا به په بیړه ځان درورسوم .....

آرته بازیوس په دې خبره ډیر خوشحاله شو.، دواړه ئې ښکته کړه اودقاصداوپیغلې اراکوزی د پاتې کیدو مصلحت ئې ورکړ...

یونانې جرنیل دخپلو پوځونو سره مخ کښې لاړ او په زړه کښې دپیغلې د ښه کیدو او د قاصد د خبرې نه ډیر خوشحاله و...

اراکوزی پیغله دفرساګ د قاصد سره ورو سته پاتې شوه.، او قاصد دجینۍ دپاتې کیدونه دخوشحالۍ هو نې موتې غوښې اخیستې.

قاصد پیغله چه د نا توانۍ نه ئی سرځوړند پروت ؤ د آس نه را کوزه کړه ، هلته ئی په ځمکه وا چوله او خپله ورسره څنګ کښی کښیناست .

یونانی پوځونه د آر ته بازیوس سره لږ لږد نظره پناه شو او دلری نه دیونیم آس آواز غوږو ته را رسیدو .

دفرساګ قاصد چه دا را کوزۍ څنګ ته ناست ؤ نو کله چه یونانی لښکری بیخی پناه شوی خول ئی لری کړو ؟ کالی ئی د تن نه بهر کړل بیا ئی مخ په دسمال پاك کړو او ورو پیغلی ته ور تیټ شو ؟ دهغی لاس ئی را جګ کړ او په عجیبه مینه او محبت ئی منګلو کښی و نیو ، ورپسی ئی خوله دارا کوزۍ پیغلی تندی ته وروړه او شوندی ئی په هغه روښانه او سپین تندی کیښودی او دعشق او مینی په ډک آوازئی وویل :

استارا ..... زما خوږی او مهربانی میرمنی .. ...

ارا کوزۍ پیغلی لکه د برق نیولی پشان سترګی رڼی کړی ، دآشنا آواز په اوریدو ژوندۍ شوه ، دآواز د خاوند مخ : لاسو نو ، سترګو او سر ته ئی وکتل او ښه ئی د نظره تیر کړ . بیا ئی بی اختیاره او ښکی سترګو

لـه راغلی اوپه ژړا شوه ،، په ژړا کښی ئی ځـان د هـغه پـوری ونښلاوه ، لاسونـه ئی کلـك د قـا صـد د مـلا نـه چا پیر کـړل او وئی و یل :

آه خـا نازس .... خانا زس .، نه‌نه گمان نه شـم کو لی خا نا زس مړدی ، هغه ... هغه ووژل شـو .، زمـا غـیر تـی خا نازس اوس په هغه دنیا کښی دی .. زه... زه ....

دفر سا گ قـا صـد چه‌او س ئـی حقیقی بڼه ا و څیر ه ښکاره شوی‌وه ، خپله گرا نه ا و محبو به میر من ، د ننـگ او غیرت تـو تـه .، دقومی ا نقلابی ډ لی مشره په غیږ کښې ونیوه، مخ او ستر گـی ئی ورله ښـکل کړ ی ، سرئی ورته په‌سینه کیښود اووئی ویل :

استارا .... استارا زه یم .، خپله ستاخا ناز س یم ،. چا تا تـه خلاف ویلی ؤ مړنه وم ... ژوندی وم .، یـوازی ستـا د گر فتاری نه‌پس می ځان دمقدونی سپاهیانو په شان کړه .، فر سا گ کښی می دفـاتـح دخـا ئن جـا سـو س مینا س دوژلونه ورو سته ځان دهغه‌د ککر ی اویو درو غجن پیـغا م سره دلته را ور ساوه ، مطلب می د دې ځـا ی د را تلو نـه ستا خلا صون و ....

استا را مـا تـه‌و گوره ..، ته خو ستر گـی وغـړه و ه

اخ چه څومره راته ستا جدائی سخته وه ... استا را ....
استارا په کراره سترگی پرانستی او دمبنی په ډك نظر ئی
خپل تورزن میړه ته و کتل . ، مو سکی شوه او لاس ئی
دخا نازس په مخ اوبریتو راښکو او یوزلی بیا ئی او ښکی
بې اختیاره په مخ راروانی شوی . . . .

ایری ژئیوس اوکار انوس

(۳)

ورځ ډیره یخه وه .، دواوری بڅری ، دسپینو پاغند و
پشان دپاسه رالویدل او دونو ، کانو بو تو مخونه ئی
پټول .

غرونه رغونه داسی ښکاریدل لکه چا چه پری
سپینه بړستن غوړولی وی دو تو ننو تو او گرځید و کار
مشکل و ،..، په اسانه به چا زړه دباندی تلو ته نه
ښه کاوه حتی دآسانو شابه دیخنۍ نه داسی لړزیدله لکه
په تا پو کښې چه غوباړی له میښی نه راتاؤشی . . . .

په همدې ورځ چه طبعیت ټول دیخنۍ اوواورو نه غلی
بروت ؤ او آسمان دقهراو غضب سپین زگونه دخولی نه غورځول
دمقدونی فاتح دوه زبر دست جنگی افسران ایری ژئیوس
او کارانوس دواړه یو ځای ناست او خبری ئی کولی

دایری ژئیوس زخمو نو په مخ او ورمیږ پتری نیولی ؤاووچ شوی ؤ او هغه پرهرونه دپخوانـه هم غټ ښکاریدل.

کارانوس هم خفه شانی معلومیده اودخفـګانه ئی شونډی او بنـه سپیره ښکاریده، تابه ویل چه په نری رنځ اخته‌دی ایری ژئیوس او کارانوس دواړه سره مخامخ ناست و، پـه مخ کنبی ئی دشرابو جامونه ډك پراتـه او پـه داسی حال کنبی چه دنیشی دلاسه ئی سرونه ځنګیدل او خبری ئی سمی نشوی کولای پـوله بله ئی مرکـه کوله او ویل ئی:

کارانوس.. زه‌وایم چه...چـه‌فا...تح‌ماسره....مرسته.. ونه کړه‌او...نه‌ایری.... ژئیوس...فاتح ته....نـه‌پیژنی... هغه...مطلب‌داؤچـه.... چه‌ته‌دهغی،ارا...، کوزی‌جینی...، مینه ....زړه‌نه‌ؤ...وباسی...هم..اوه کارا...نوس..ته‌ډیر.. ساده‌ئی.،عشق،مینه،محبت‌څوك‌د...زړه‌نه.... نشی‌ایستی‌او... هغه‌چـه.د..زړه نه...وونی شی ..هغه خو... عشقا و... مینه نه شوه کنبه...

ایری ژئیو...س...عشق او مینه کلـه کـله... جهنمی... کیږی او.،.چه جهنمی...شی‌نو...بس... نوهه هه ...

کارانوس پـه قهقه‌وخندل او دشرابو دخمارنـه ئی سرلاندی ځوړنده شو.،.

ایری ژیئیوس دشرابی‌یار دخندا نه وروسته بیابه رابکلو او نیمو نیمو الفاظو وویل:

کارا... نوس... عشق او... مینه... همیشه. همیشه جنتی‌وی.، ستا فکر نه ؤ چه‌لیو نیداس استاذ به شه ویل...

ایری ژیئیوس.. داخبری... پریزده.، فاتح چه... آرته.. بازیوس ته..، دحملی امر ورکړ.. نو هغه ارا کوزی پیغله ئی.. هم ورسره ولیزله.، او ورته ئی وویل چه لمړی به ذفرساگ دروازی پرانیزی... اودا.. خو تا ته معلومه ده چه په فرساگ کښی... خانازس... هغه خانازس چه فاتح دهغه پەسر انعام ترلی وناست دی..، اودهغه وجود.، دآرته بازیوس غریب دپاره دزهرو دگولی مثال لری.

کارانوس... په دې رازخو.. دیوازی زه‌اوته... پوهېږو اوفاتح‌خو... ندی خبر.. بلکه هغه لا.، تراوسه په دې خیال کښې دی چه... خانازس رښتیا مړدی او... هغه چا چه هغه ته... یعنی فاتح ته،، دخانازس د مرگ احوال راوړو هغه... هغه...

پەدی وخت کښې د باد د اسی طوفانی سیلی راغله تا به ویل چه دغه دی هر څه ئی په هوا کړه او غرو نه ئی سره ونړول او د همغی دزور نه د ایری ژیئیوس خبره

تمامه‌پاتی شوه اودویری نه ئی لاسونه په سر ونیول..
دباد شیطی چه خلاصه شوه نو جرنیل د خولی نه یوا وزد ،
او سیلی وایست او و ر پسی ئی ز یا ته کړه :
کارا نو س.. کاشکی‌چه فاتح دآرته با ز یوس په ځای..
زه دهغی جینی سره و رلیږلی و م.،چه ما خو دهغی خیره...
دا یری ژیئیو س خبر ه پـه خو لـه کنبی و چـه شو ه.،
کارانوس ناڅاپه دځایه، را پاڅیدا و مخامخ دروازی ته
سلامی ودرید او چه را پاڅیده، نو پنبه ئی ونښته او دشرابو
جامونه پـه ځمکه را و لو یدل .
ایری ژیئیو س نـه وار پلار خطا شو..،هر څـه تر ی هیر شو
حتی د ځایـه پاڅید ه او ....
مقد و نی سکندر پـه در وازه کنبي ولاړو .، لکه د با ز
پـه شان چه‌چنچنو او کو ترو تـه گو ری، خپلو د و ه مستو
ا و خما ر و ا قسر ا نو تـه ئی کتل، کله یو ا و کله بل
او کله هم دشرابو لو ښو تـه بـه ئی نظر اچا وه او د خو لی
پـه کنج بـه ئی یود مسخرو غوندی تبسم پیدا شو، دسکندر
په ایدودایری ژیئیوس او کارانوس دسرنـه د شرابو مستی
والوتـه،دماغ ئی ر و ښا نـه شوا و پـه خپل فـکر شوه
او په د ې وخت کـنبی چـه فاتح هغوی ته را نژ د ی کیده
نو دوی هم و ر تـه‌ځان سنبال کړ .

سکندر مقدونی پـه کرار کرار راوړاندې شو.
برابر راغی او پښه ئی د شراب په جامونو کیښوده او چـه
هغه ئی توتی توتی کړه نو بیائی لاس صراحی ته کړ او هغه
ئی په مخکه و وېشته

ایری ژیئیوس او کارانوس چه د فاتح ستر گو او بشری
تـه وکتل نو پـه لړزیدو شول، لـکه د لمبلو پـه وخت کښی
چـه سړی یخی اوبه پـه ځان راواچوی.
مقدونی نور هم هغو دوو سردارانو تـه ورنژدې شو او چـه
یـو قدم فاصلی تـه ورسیده نو خوله ئی پرانسته او پـه
ډیرو سختو الفاظو ئی هغو ته وویل:

تاسو چه نن د بی غمۍ نـه د شربتونـه دا داور او زهرو
د کـی اوبه څښئی، یقین ولرئ چـه ددی په ځای به نن سبا
داخلك.. داقوم.. داپښتانـه ستاسو زما او ټولو یـونانی
لښکرو وینی وڅښې او د ټولـو د سر پـه کـوپړو کښې
به د خوشحالۍ اورونـه بل کړی.

ایری ژیئیوس. تا چـه مخکښی د آرتـه باز یوس پـه ځای
دارا کوزی پیغلی سره د تللو ارمان کاوه زه بـه اوس
ستا هغه ارمان په ځای کړم خو یوازی په دې تفاوت چه تا به،
ستا د خیالی محبوبی د پیدا کولو او بیا دلته دهغی دراوستلو
د پاره مامور کړم ....

کارانوس اوایری ژیئیوس د سکندر په مطلب پوه نه شول او دمراد تکي ته و نه رسیدل..، هماغه شان بی حرکته دبت په‌شان په ځای ولاړ ؤ.، او چه مقدونی خبره خلاصه کړه نو ایری ژیئیوس په کراره آواز چه دویری علامه په کنبي معلومیده وویل :

اعلیحضرتا. .په مطلب ښه ونه رسیدم او..

فاتح ئی په شدت خبره پریکړه او په عصبی حرکاتو ئی هغه ته وویل :

یعنی مطلب دا چه هغه اراکوزی جینی دهغه قاصد سره چه دمیناس سر ئی راوړی وتری تم شوه.، او هیچاته ئی پته نده لګیدلی...

دمطلب داوریدو سره دایری ژیئیوس او کارانوس سترګی وپرکیدی،وینه ئی مغزوته وخته او دلاتو پشان پری سر وګرځید.،پښو او لاسونو ئی سستی وکړه او دسینی په صندوقچه کښی ئی زړه پرتکی او توپونه شروع کړه.

پهدي حال کښی چه دایری ژیئیوس او کارانوس په بدن دغم طوفان ورګډ شوی ومقدونی فاتح بیاوویل

ته هم کارانوس په دی لاره کښی دهغه ملګری ئی.، تاسو به داوظیفه ډیره زرسرته رسوئی.، په دوه دری ورځو شپو کښی به هغه جینۍ یعنی هغه ارکوزۍ پیغله را پیدا کوی... ځکه... ځکه چه...

سکندر چپ شو، خبره ئی خلاصه نکړه، دستر ګو لاندی ئی دواړو افسرانو ته کتل او غلی شو...

فاتح دلږ ځنډنه پس بیاسر را جګ کړه او چه خپل جنګی سرداران ئی دنظره تیر کړل نو وئی ویل:

ارته بازیوس چه مالیزلیؤ هغه د «اراکوتس» (۱) ښارته ورنزدی شوی او نن سبا به په هغه ځای خونړۍ حملی شروع شی.، هغه غریب دپیغلی په ورکیدو نهایت خپه دی. حتی بیرته ئی دراګرځیدو اجازت وغوښت خو...

سکندر چپ شو اوشاته ئی وکتل.، ددروازی په خوله کښی چه اوناسیس دپخوانه دځونورو په وسله پټو سپاهیانو سره ولاړو دمقدونی فاتح په اشاره پوه شو اورا مخکښی شو، فاتح ته تیار سۍ ودرید او په محکمو الفاظوئی و ویل:

اعلیحضرتا... فیلوس په حق ورسید او...

---

(۱) پخوانۍ اغدارا کوزیاد یو ښار نوم دی چه ځینی یې ننی ارغنداب بولی

ایـری ژ ئیوس او کارا نوس د ویری او تعجب نه ولړزیدل. رنگ ئی والوت او بی اختیاره دوه گامه شاته لاړل. ستر گی ئی نوری هم پراخی شوی او په لړزیدلی آوازئی و ویل:

فیلوس.. اعلیحضرتا فیلوس طبیب.. فیلوس مړشو ...؟؟؟

نور دسکندر مراد حاصل شوی ؤ. موسکی شو اود وا ړو افسرانو ته ئی وویل:

فیلوس مړشو ځکه ما دپیغلی د پیدا کیدو نیته دری شپی وتا کله. په دی موده کښی به آرته بازیوس هم په خپل مقام کښی پاته وی'' په اراکوتس به د حملی انتظار وباسی اوچه تاسو دتندر ددلی مشره وینوله نو بیا به هغه..

ایری ژ ئیوس چه هماغه شان ئی ساه بنده بنده کیدله، دفاتح په خبره کښی ورننوت او وئی ویل:

اعلیحضرتا دفیلوس مرگ. یونانی پوځو نوته ډیرلوی او عظیم تاوان دی اودا تا وان گمان نه کوم که په هغی اراکوزی پوره شی..

نه ایری ژ ئیوس.. تا ته داپته نه لگیږی چه یونانی لښکرو ته دهغی پیغلی وجود دهرڅه نه زیات دی. یعنی دهغی نیول په سلو..

فاتح بیاچپ‌شو. دبادسیلۍ هماغه شان شپیلی‌وهل‌اویخنۍ دکوټی ددیوال په سورو او غاروحملی راوړلی.، دافسرانو زړونه دپخوا په‌شان لړ زیدل مقدونی سکندر دلبز ځنډنه پس بیاهغو دوو سردارانو ته‌مخ کړو او وئی‌ویل:

نور وخت تیرون په کارندی.،آرته بازیوس منتظردی، یونانی لښکری‌په واورو اویخنۍ کښی دمرگ او نیستی خواته روانی دی،ددی ملك خاوره او خټه،مځکه او اسمان، کانی او بوټی دخطر په‌وخت کښی..،دجنگ او وینو تو یولو په‌وخت کښی لس‌چندانی...شل‌چندانی خطرناکه کیږی.،خوله اچوی..،ژوندی سړی خوری او لکه غنه چه مچ‌ځان‌ته راکاږی په هماغه شان داوطن.، ددښمن دمحوه کولو، وژلو اوور کولو دپاره راکش کوی...مقدونی فاتح ددی خبرو کولو نه پس‌چپ‌شو.،سوړ او سیلی ئی وایست او بیا په کراره دهغه ځایه راووت او دده افسران اریان‌پاتی شوه.

* * *

سکندر هغه‌ورځ په‌ډیرې سرگردانۍ اوغم تیره کړه.، دلیونی او سودائی پشان به ښکته پورته گرځیده.،خبری

به‌پری بدی لګیدی، یوه شیبه به یه ځای نه کیناستلو تا به‌ویل ځمکه ځای نه ور کوی.

په‌ټوله ورځ کښی یوه ګړی واو ره ونه دریده، ګز ګز دځمکی پـه‌مخ، پـه‌غرونو رغونو وو ریـده، او د تـلو ر اتـلو او ګرځیدونه خبره وو تـله...

مـا ښـا م سـکـندر سرپـه بالنبت کینبو د او ستر ګی‌ئی چـت‌تـه وینولی، پـه دماغ ئی دخیال سیلابونـه سواره شـوه او پـه زړه ئی دویری او قهر طوفانونه ور ګډشول.

دو ډی‌رتـه‌ئی چندان زړه‌ونـه‌شو، صرف دوه‌دری مړی ئی وکړې اورا پـاځیده او دیو سـوړا واو رد او سـیلی سره ئی اوناسیس تـه وویـل:

طبیعت می ایری ژ ئیوس او آرته بار یوس تـه خراب دی چـه هغو به دوډی چیرتـه او په کوم ځای کښی خوړلی وی.

آرتـه بـاژیـوس خـو خیر کـارانـوس... کـارا نـوس...

اونـاسیس چـه دفاتح خطاب ځانته ولیدو نوپـه ډیرادب ئی ځـواب ور کـړ:

اعلیحضرتا... هـغوی بـه پـه‌ډیر فخر او خوشا لی پـه هغی اراکـوزی پسی ګرځی، او دفاتح داتیو جـه او مخصوص لـطف هـغوی تـه دهری دو ډی نـه زیـات دی.

شینواری (دوست)

زه څه نه غواړم

نه‌وایم داچه هاغه غوا ړمه دا نه غواړمه
هرڅه چه‌ته راکوی نوره لتا نه غوا ړمه

بی دیوزړه اوبینا ستر گو نور هیڅ مه راکو .
همدامې بس دی زه دولت او دنیا نه غوا ړمه

لوزی او تندی قبلوم که مخمصی وی خو هم
دبل په داد د ریدلو فتـوا نـه غوا ړه مـه

ښه‌شو چه پوه په‌ښه اوبد دې کړم ملادی کړمه
خو د غه وزی تبزی خـوې د ملا نه غوا ړه مـه

ستا په دی مور جهان کښې خیردی که نهر گرزمه
خـو د پښتون دبد وور ځـو سلا نه غـواړمه

چه د پښتون لاس وی تنا کـی دپـردو د پا ر .
ز . فیصلی د دې تقد یر او قضا نه غـو ا ړ مه

دبی غمی مهربانی په احمقانو وکړه . . .
زه احمق نه یم خوشالی او خندا نه غو ا ړ مه

که هرڅه غوا ړم خو په زیاراو دتندی په خولو
کوم صاحب نه‌یم زه‌دې هیڅ شی وړیا نه غواړه‌مه

R - 2
1959

دولتی مطبعه